



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بغاوت

(ناول)

ارشد خلیل (لپونے افغان)

پوهه لائبریري

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب ټول حقونه د لیکونکي په حق کښې محفوظ دي

د کتاب نوم: بغاوت

صنف : ناول

لیکونکی: ارشد خلیل (لېونی افغان)

کمپوزر: سلېمان کامل

سرپاڼه: احسان الله منیب

پروف : ډاکټر محمد زبېر حسرت

اهتمام : مرکه پبلي کېشنز مردان

چاپ: اول ځل / کال 2012 میلادي

شمېر: یو زر

بیعه: دوه سوه کالداري

درك : ینورستي بك ایجنسي پېښور

انلائن ایډیشن: پوهه لائبریري http://poha.pk/library

او د لر او بر پښتون افغان وطن د هر ښځ

کتاب پلورنځی نه تر لاسه کېدی شي

رابطه: 03455557575

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوون

د هغه سرونو په نوم چې پکښې

د پښتون د ازادۍ او ابادۍ

فکر بې قراره دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

بايزيد پير روښان، نورمحمد ترکۍ، ډاکټر نجيب سره سره د هغه ټولو پښتنو ځوانانو ننګيالو په نوم چې د خپل پښتون اولس د سر لوړۍ د پاره ئې خپل ځانونه قربان کړي دي او غلامي ئې نهٔ ده قبوله کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زما بغاوت

ملګرو لوستونکیو! دا ناول زما د پښتو ژبې، ادب او د قام د خپلواکۍ په لړ کښې یو وړوکے شان کوشش دے ، زهٔ په ځان باندې د خپلې ژبې او قام ډېر پور ګڼم او غواړم چې د دې د پاره ډېر کار وکړم ځکه چې پښتو ژبه او پښتونخوا وطن زمونږ د مور درجه لري او چې څوك په خپله مور باندې ننګ نهٔ کوي هغه له سره هډو پښتون نهٔ دے۔

د دې ناول په اړه به فېصله ګران لوستونکي کوي او معيار به ئې ټاکي خو زهٔ هم له ګرانو لوستونکيو نه دا طمع لرم چې ماته به زما کمزورۍ په ګُته کړي چې په ائنده کښې ئې د سهوې کوشش وشي۔

زهٔ د ملګري او ورور سلېمان کامل صېب ډېره مننه کوم چې د مشورو نه علاوه ئې د کمپوزنګ کار هم سر ته ورسوهٔ ، د پروف ريډينګ د پاره د ډاکټر محمد زبېر حسرت صېب هم مننه کوم چې خپل قيمتي وخت ئې ماته راکړهٔ۔ د احسان الله منيب صېب هم ممنون يم چې د کتاب د چاپ ذمه واري ئې په خپل سر واخسته او د خپلو ټولو خواخوږو هم مننه کوم چې زماد دې کتاب چا پ ته په طمع وو۔

په ډېره مينه او مننه

ارشد خليل(لېونے افغان)

پېښور پښتونخوا

۹م ستمبر ۲۰۱۲ء

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اول ټوك

د پیښور په یو کلي کښې یو زلمے د ګل په نامه اوسیدهٔ. ګل به په کلي کښې زمینداري کوله، یوه ورځ سحر وختي ګل د چائې ډوډۍ خوړو نه پس خپله قلبه پټو ته روانه کړه. څهٔ زمکه ئي اړولي وه او څهٔ ورته لا پاتې وه . هغه ئي هم نن واړوله او تخم ئې پکښې واچولو. ګل ټول کار خلاص کړهٔ او ستړے ستومانه کور ته روان شهٔ. کور ته چې څنګه رادننه شهٔ نو کور کښې ئي ګڼه ګوڼه وه . د دهٔ درې خویندې وې چې درې واړه د دهٔ نه په عمر کښې مشرانې وې او پلار ئې په خپل ژوند وادهٔ کړې وې. نن په یو وخت ټولې دوي کره راغلې وې. ګل درې واړه خوېندو سره ستړے مهٔ شي وکړل او بیا ئې په کوزه مخ لاس وینځل. د دوي مور ژوندۍ وه . ګل په مور خو څهٔ چې په درې واړو خوېندو هم بلا ګران وهٔ او ډېر نیازبین ئې لوے کړے وهٔ . د پلار د مرګ نه شپږ میاشتې پس ګل پیدا شوے وهٔ . د پلار نه پس د خوېندو هم دهٔ ته سترګې وې. په دې دنیا کښې هم دا وروړ ئې د سترګو تور وهٔ ځکه چې ښځه کهٔ ډېر مالدار سړي هم ته وادهٔ شي خو چې وروړ ئې په لاس وس تکړه نهٔ وي نو د خاوند په کور کښې ئې قدر عزت کم وي. د پلار نه په وراثت کښې ګل ته پنځهٔ جریبه زمکه پاتې شوې وه.دا زمکه به دهٔ په خپله کرله او چې کله به ئې فصل پوخ شهٔ نو بیا به ئې په ګجرانو خرڅولو او دغه رنګ ئې خپل ژوند تېرولو چې کله به ئې فصلونه خرڅ کړل نو څهٔ روپۍ به ئې مور له د مړې ژوندې د پاره ورکړې او څهٔ روپۍ به ئې خپلې مشرې خور سره کېښودې او باقي روپۍ به دهٔ خپل جېب او د کور خرڅ له ځان سره کېښودې . مشرې خور نوم ئې سلطانه وهٔ ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوبمې خور نوم ئې نیازمینه وهٔ او د دربمې نوم ئې فریده وهٔ ـ یو مازیګر چې ګل خپل کور ته راغے نو خوبندې ئې بیا په شریکه کور ته راغلې وې ـ ستړې مهٔ شي نه پس ګل ټولو سره لاس ملاو کړهٔ ـ مشرې خور سلطانې ځان ته رانزدې کړهٔ او په تندې ئې ښکل کړهٔ او ورته ئې ووئیل چې وروره دلته مونږ سره په کټ کښې کښینه ـ ګل ورته وئیل چې خورې زهٔ لږ مخ لاس وینځم نو بیا درسره خبرې اترې کوم ـ فریدې خور ورته کوزه ډکه کړه ، ګل مخ لاس اوینځل او سلطانې خور سره په کټ کښې کښیناستهٔ ـ نیازمینې خور ئې حلوه پخه کړې وه، ورته ئې ډېره په مینه راوړه، فریدې ورله چائې راوړه ـ ګل چې حلوه خوړه نو سلطانې ورته خبره راوچوله چې وروره بس دے مور مو هم ډېره کمزورې شوې ده او د پلار د مرګ نه پس ورسره ستا غم دے ستا ځنګه خوښه ده چې تا له یوه ښکلې شان جینۍ وګورو او درله زر تر زره وادهٔ وکړو نو مور به مې هم ستا ښادې په خپل ژوند وویني او مونږ به هم خوشحاله شو ځکه چې ستا په سر د وادهٔ سهره زمونږ ډېر لوے ارمان دے چې ستا په خوشحالۍ کښې یو ځاے شو او ستا اباد کور ووینو ـ سلطانې خپله خبره زیاته کړه چې کهٔ خبر وې او اللّه تعالٰی ته منظوره وې نو ستا به نوے ژوند جوړ شي، خپل کور ، خپله ښځه او خپل بال بچ به وې ـ دا خبره د ګل په زړهٔ کښې د اول نه وه خو د دهٔ سوچ وهٔ چې مخکښې به لږې ډېرې پیسې جمع کړم نو بیا به دا خبره خپلې مور او خوبندو ته وکړم خو ګل له نن موقع په لاس ورغله او سلطانې خور ته ئې ووئیل چې خورې دا خبره دې سمه ده ، بس چې ستاسو ځنګه خوښه وې زماهم خوښه ده ـ په خواکښې کټ کښې ورسره نیازمینه او فریده هم ناستې وې ـ نیازمینې سلطانې خور ته مخ راواړولو او وې وئیل چې کهٔ ستاسو خوښه وي نو زمونږ محلت کښې د حاجي ګلاب خان یوه لور ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ډېره حياناکه پيغله ده ، هغه به ګل له وغواړو او هسې هم حاجي ګلاب خان ناجوړه دے نو خامخا به ورسره د لور غم وي ـ مور ئې ووئيل چې هو کنه بچې هغه خو دې د پلار ډېر خوږ ملګرے وۀ ، هر مازيګر به دې د پلار خواله راتلو او چې پلار به دې کله هم د شپې کورته راغلو نو د ګلاب خان خبرې به ئې کولې ـ ګلاب خان او پلار به دې مدام د يو بل تپوس کولو ـ د دواړو يو بل سره ډېره مينه وه ـ په دې کښې فريدې خور ئې ووئيل چې بيا خو خبره نوره هم اسانه شوه ، سلطانې ووئيل چې د ګلاب خان لور ګلالۍ خو زما هم ډېره خوښه ده، ډېره ښه جينۍ ده او ورور ته ئې مخ راواړلو چې وروره زمونږ دا جينۍ ډېره خوښه ده، ستا څنګه خوښه ده چې درله ئې وغواړو ـ ګل ورته ووئيل چې څنګه ستاسو خوښه وي زما هم هاغه رنګ خوښه ده ـ سلطانې خور ئې ووئيل چې د جمعې په ورځ به د ګلاب خان کاکا کره لاړ شو او ګلالۍ به ستا د پاره ترې وغواړو ـ په ګل باندې خپلې خوېندې ډېرې ګرانې وې او د حد نه زياته مينه ئې ورسره کوله ځکه چې په دې دنيا کښې د دۀ د بوډۍ مور او د دې خوېندو نه بغېر نور هيڅوك نۀ وو ـ يو دوه ملګري ئې هم وو ، هغوي سره به کله کله د شپې حجرې ته لاړۀ ـ

د جمعې په ورځ درې واړه خوېندې او مور ئې د ګلالۍ ليدو او غوښتو له د ګلاب خان کره لاړې ـ د ګلاب خان ښځې ورته په روڼ تندې هرکلے اوئيل ، ډېره مېلمستيا ئې وکړه او ډېره په مينه ئې ورسره خبرې اترې وکړې ـ په خبرو خبرو کښې د ګلاب خان ښځې نه سلطانې پوښتنه وکړه چې ببو ګلاب خان کاکا څنګه دے ، څۀ ګوزاره ئې شوې ده کنه ـ هغې ورته وئيل چې په ډېرو ډاکټرانو مو وګرځولو خو څۀ ګوزاره ئې نۀ ده شوې ـ نيازمينې ترې تپوس وکړۀ چې ډاکټران څۀ وائې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو هغې ورته په جواب کښې وئيل چې بچې ډاکټران وايي چې دا ئې د عمر تقاضه ده ځکه چې بوډاوالے په خپله يوه لويه بيماري ده، ډېر کمزورے شوے دے، په کور کښې دې ارام کوي ـ سلطانې خپله مقصدي خبره پېل کړه او د ګلاب خان ښځې نه ئې د ګلالۍ رشته د ګل د پاره وغوښته . د ګلاب خان ښځې په لوے زړهٔ دا خبره واورېده او دوي ته ئې په جواب کښې ووئې چې ګلالۍ خو زما دا يوه لور ده ، تاسو ښهٔ خبر يئ چې اللّٰه پاك راله د دې نه پس بل اولاد نهٔ دے راکړے زهٔ به د ګلالۍ پلار سره خبره وکړم نو بيا به تاسو له جواب درکړم ـ سلطانې ورته وئيل چې تروري ګل خو هم زمونږ يو ورور دے زمونږ ټولې خوشحالۍ هم دهٔ سره تړلې دي او بيا ګل خو ستاسو د سترګو وړاندې لوے شوے دے ـ د هغهٔ د ټول کړهٔ وړهٔ نه تاسو خبر يئ ـ د ګلالۍ مور ورته وئيل چې ګل خو زما د ځوي په شان دے خو خبر دے بچے مونږ به پرې کور مشوره وکړو ځکه چې مشوره کښې خبر وي ـ زهٔ به يو څو ورځې پس تاسو له په خپله جواب درولېږم ـ د ګل مور ورته ووئيل ښه ده خورې مونږ به اوس لاړ شو خبر دے تاسو پرې خپله مشوره وکړئ ـ رخصت ئې واخست ، خپل کور ته لاړې او د ګل خوښندې خپلو خپلو کورنو ته لاړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویم ټوک

څو ورځې پس د ګلالۍ مور دوي کره جواب راولېږهٔ چې سبا سحر مونږ کره راشئ. د ګل مور ډېره خوشحاله شوه خو وسوسو به هم په خپل ګرفت کښې راګېر ه کړه چې هسې نه انکار وکړي. زر ئې برقعه راواخسته او سلطانې لور کره لاړه. سلطانې فریدې او نیازمینې کره هم جواب ولېږهٔ چې سبا له ځان تیار کړي چې ګلاب خان کاکا کره لاړ شو. شپه تېره شوه ، ګل سحر وختي پاڅېدهٔ ، نمونځ ئې وکړهٔ، مور ورله ډوډۍ چائې تیاره کړي وه ، دهٔ ته ئې کیښودهٔ او بیا لاړه د قران پاك تلاوت ته کښیناسته. ګل ناست وهٔ چائي ئې څښله او مور ئې قران شریف بند کړهٔ او په ګل ئې چف وکړهٔ. ګل پاڅېدهٔ لور او بېلچه ئې راواخستهٔ ، پټي ته روان شهٔ خو مور ورله اواز ورکړهٔ چې مونږ به نن بیا د ګلاب خان کره ځو ځکه چې هغوي پرون جواب کړے دے ، څو ورکره ګورو چې څهٔ جواب راکوي. ګل مور ته وئیل سمه ده، بس اللّٰه پاك دې هغه وکړي چې زمونږ د ټولو خېر وي پکښې. زهٔ اوس ځم په پټو چکر وهم بیا به مازیګر راشم ، نورې خبرې به بیا کوو. مورئې په سر لاس راښکهٔ وې څه بچے خدا ے دې مل شه.

لږ وخت پس سلطانه راغله ، دغه رنګ فریده او نیازمینه هم لږ ساعت پس راغلې برقعې ئې کېښوې او خپلو کښې په مجلس شوې. نیازمینه زر راپاڅیده او وې وئیل چې زهٔ به درله یوه پیالۍ چائې پخه کړم ، چائې به وڅښو نو بیا به د ګلاب خان کاکا کره لاړ شو. مور ورته وئیل ښه ده بچې خو وګوره چې ګوره شته کنه ما وختي خیال ونهٔ کړهٔ کهٔ نهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي نو پاس په چتی باندې په ډبې کښې چيني پراته دي هغه را واخله. نيازمينې ورته ووئيل ښه ده موري ته بې غمه شه. څه ساعت پس چائې تياره شوه ، ټولو چائې وڅښله او سمدستي راپاڅيدې په روانه کښې د ګل مور ووئيل لږ صبر وکړئ چې لږې پيسې د ځان سره راواخلم هسې نه چې بيا رامنډې وهم. سلطانې ورته ووئيل مورې ته راځه ما ځان سره پيسې راخستې دي. مور ئې ور د بهر نه ځان پسې راښکله او ګاونډۍ شمعې ته ئې جواب پرېښوده چې که ګل راغلو نو ورته ووايه چې مور دې وئيل چې چرته لاړ نه شې مونږ راځو او دوي د ګلاب خان کره لاړې د ګلالۍ مور په نمانځه ولاړه وه. دوي په کټونو کښې کښيناستې. نور څوك كور كښې نه وو او ګلاب خان خو له ډېره وخته په کوټه کښې پروت وه. د ګلالۍ مور چې څنګه سلام وچاربا سلو نو زر زر د دوي ستړي مه شي له راپاڅېده او ټولو ته ئې په خېر راغلې وئيل او خوا کښې ورسره کښيناسته. خپلو کښې ئې خبرې اترې شروع کړې. د ګل مور ترې نه پوښتنه وکړه چې د ګلالۍ پلار څنګه دے ، هغې ورته وئيل چې خورې هم هغه رنګ دے ورځ تر ورځ ئې صحت کمزورے کيږي. فريدې پکښې ووئيل چې تروري ګلالۍ چرته ده ، هغې ورته ووئيل چې هغه خپلوانو کره تلې ده ، د ماشوم سنت دے ما ورته وئيل چې ځا پام به دې غلط شي لاړه شه. په دې خبرو کښې سلطانې مقصدي خبره راواچوله چې تروري د ګل او د ګلالۍ د رشتې خبره مو څنګه کړه؟ ښځې ورته جواب ورکړو چې مونږ ته د ګل او ګلالۍ رشته منظوره ده ، الله پاك دې دا رشته بختوره کړي او ټولو له ئې مبارکي ورکړه. د ګل مور او خوبندې هم ډېرې خوشحاله شوې ، په مخونو ئې د خوشحالۍ رنګونه وځلېدل. د ګلالۍ مور پاڅيده په منډه منډه ئې ورله شربت جوړ کړو اول ئې ورله لږه شان چيني په پيالۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښېږ راوړه چې خلۀ خوږه کړي او بیا ئې ورله شربت ورکړۀ ـ سلطانې خبره وکړه چې ستاسو کله خوښه ده چې کوېژدن وکړو؟ د ګلالۍ مور ورته ووئیل چې کله مو خوښه وي زۀ پرې رضا یم ـ فریدې ووئیل چې تاسو هم ځان تیار کړئ او مونږ به هم د ګل ورور سره مشوره وکړو۔ د ګلالۍ مور ورته ووئیل چې زۀ درته یوه خبره کوم چې کوېژدن به ساده طریقه باندې وکړو ، ډېر رواجونه به پکښې نۀ کوو ځکه چې د ګلالۍ پلار هم ناجوړه دے او هسې هم زمونږ او ستاسو غریبي ده کۀ تاسو خفه کېږئ نه نو ټول کار به په ساده طریقه خلاص کړو په تاسو به هم بوج نۀ وي او په مونږه باندې به هم ـ د ګل مور ورته ووئیل چې خورې ځۀ چې کوو نو په صلاح مصلحت به ئې کوو او دا رنګ دوي خپل کور ته راروانې شوې ـ د راتلو سره سلطانې یو ماشوم له پنځوس روپۍ ورکړې چې ورشه د کاکي جان ماما نه سوجي راوړه او لس روپۍ ئې ورله بیلې ورکړې چې په دې باندې میوه او پلي ګډوډ راوړي ـ ماشوم سمدستي سوجي راوړه ، فریده ورته کېښناسته اول ئې صفا کړه، بیا ئې باندې کړه ـ نیازمینې فریدې ته ووئیل چې خورې پام کوه چې حلوه درنه ونۀ سوزي ښه خوندوره ئې پخه کړه د ورور مو کوېژدن خوشحالي ده چې په کښې د څۀ کمے رانۀ شي باقي به اللّٰه پاك خیر وکړي ـ چې حلوه پخه شوه نو اول ئې خپلې مور له راوړه او ورته ئې وئیل چې مورې! اول تۀ خلۀ خوږه کړه ـ سلطانې خور ئې په پتنوس کښې حلوه واچوله او ورته ئې ووئیل چې دا په کورونو وویشه ـ اوس وخت دے چې نۀ تېرېږي چې څنګه به مو نیازبین ورور راځي چې مبارکي ورله ورکړو۔ نن د ګل په خویندو سم اختر وۀ ـ په دې کښې د مازیګر اذانونه وشول ، سلطانه او نیازمینه په نمانځۀ اودرېدې ـ په دې کښې ګل کور ته راننوتو فریده زر د کټ نه راپاڅېده او ډېره په خوشحالۍ ګل ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورنزدې شوه او په مبارکو شوه، مور ئې هم د کوټې نه راوته او ګل ئې په تندي ښکل کړو او ځان ته ئې راجُخت کړۀ. سلطانې او نیازمینې هم نمونځونه خلاص کړل او د مصلې نه ئې ګل ته اواز ورکړو چې ګله مبارك دې شه ستا او د ګلالۍ رشته وشوه. ګل راغلو او مور سره په کټ کېښناستۀ او مور ته ئې ووئیل چې مورې ستا هم مبارك شه. فریدې ورله زر حلوه راوړه او په خلۀ کښې ئې ورکړه. نیازمینې ورله چائې راوړې ګل هم ډېر خوشحاله وۀ ځکه چې د نوي ژوند ملګرې ئې پیدا شوه او په یوه نوي لاره ئې د ژوند تېرولو پېل وکړو. په دې خبرو اترو کښې د کوېژدن خبره هم پخه شوه او نېټه ئې راروانې جمعې له کېښوده. ګل لا د مازیګر نمونځ نۀ وۀ کړے. د کټ نه پاځیدۀ او دوي ته ئې ووئیل چې زۀ ځم نمونځ مې نۀ دے کړے ، نمونځ کوم نو د کلي د سر نه به خوارۀ هم راوړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم ټوك

په سبا سحر وختي ګل چي ناشته وکړه نو فضل رحمان ګوجر پسې ورغلو هغهٔ سره ئې د فصل پېسې پاتې وې، پنځلس زره روپۍ مخکښې وې او پنځهٔ زره روپۍ ورسره د دې فصل وې هغه ئې ترې نه وغوښتې، هغهٔ ورته لس ورځې نېټه ورکړه ـ څو ورځې پس د ګل خوښندو ځان له نوې نوې جامې وګنډلې او مور له ئې هم سره د پېزاره جامې راوړې ـ د جمعې په ورځ د ګل او ګلالۍ کوږدن وشوه ـ د کوږدنې د خوشحالۍ نه چې دواړه کورونه وزګار شو نو دواړو طرفونو د وادهٔ سامانونه برابرول شروع کړل او ورو ورو ئې ځان وادهٔ ته تیارولو ـ څلور میاشتې پس د وادهٔ د نېټې خبرې هم شروع شوې ـ د ګل کورنۍ د وادهٔ ټول سامان برابر کړے وهٔ ـ د وادهٔ نېټه هم د دې میاشتې په اخري جمعه کېښودې شوه او دعا د خېر وشوه ـ ګل یوه ورځ خپل ملګرے د ځان سره بازار ته بوتلو او د زرګر د دکان نه ئې د کالیو نمونې راوړې ـ خپلو خوښندو ته ئې وښودلې چې یو سېټ پکښې د ګلالۍ د پاره خوښ کړې ـ هم د دغه نمونې مطابق ئې زرګر له د درې تولو د کالي جوړولو اردر ورکړهٔ ـ د ګلالۍ مور هم د خپل وس مطابق ځان تیار کړے وهٔ او دغسې په هله ګوله کښې ټول وادهٔ راغونډ شهٔ ـ

د ګل او ګلالۍ د نوي ژوند اغاز ډېر په ښهٔ طریقه وشهٔ ـ د ګل په ژوند کښې ډېر اړخونه داسې وو چې د هغې په وجه به هغه په خپل کلي کښې خو څهٔ کړې د خواوشا کلیو کښې به هم خلقو پېژندهٔ او ډېره مینه به ئې ورسره کوله ـ اصل وجه دا وه چې ګل یو ډېر تکړه قام پرست انسان وهٔ ـ ټول عمر ئې د خپل قام د ښهٔ ژوند د پاره وقف کړے وهٔ ـ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلي هر مشر نه واخله تر ماشومانو پورې به ئې ټولو سره مينه کوله، هر سړے به د ګل د ښۀ اخلاقو نه متاثره وۀ خو ګلالۍ هم يوه ښتنه ښځه وه ، ټوله ورځ به ئې د خاوند او د هغۀ مور خدمتونه کول او چې کله به د ګل خوېندې راغلې نو ډېر په درناوي به ئې ورله مېلمستيا کوله ـ د خپلو خوېندو نه به ئې ورته کم نۀ کاتۀ ـ د ګلالۍ راتلو سره د ګل په کور کښې يو ښکلې شان رڼا پېدا شوه ـ ګل ته هم ډېره ښه ملګرې ملاو شوه ـ ګل ورسره ډېره مينه کوله ـ ګل ته د ګلالۍ په شکل کښې د الله پاك د طرف نه يو نعمت ملاو شوے وۀ ـ د ګل په ژوند کښې به چې هر څومره ستړې راغلې خو چې خپل کور ته به رادننه شۀ نو ټوله ستوماني به ئې د ګلالۍ په يوه مسکا ختمه شوه او دمه به شۀ.

ګل به کله کله سحر وختي په فصل باندې چکر وهلو ، په دې غرض چې چا به ورانې خو پکښې نۀ وي کړے ـ يوه ورځ د پټي نه په واپسۍ ورته داود خان چې په پوله ناست وۀ اواز ئې وکړۀ او اشاره ئې ورته وکړه چې ديخوا راشه په راتلو ورته هغۀ وئيل چې حکومت په قام پرستو پسې راخستې ده وايي چې دوې په ملك کښې انتشار جوړوي او د نورو ملکونو سره رابطې ساتي او د دغه ملکونو په مرسته او ډاډ دلته اړے ګړے پېدا کوي ـ ګل ورته وئيل دلته خو چې څومره قام پرست دي هغوي خو صرف د خپل قام د پاره هلې ځلې کوي نو داود خانه دا راته ووايه چې تۀ څنګه خبر شوې؟ داود خان ورته ووئيل ماته يو ملګري حال وئيلے دے. هغۀ دا هم وئيل چې ځاے په ځاے د سي ايي ډي کسان ګرځي او د قام پرستو لستونه جوړوي او بيا ئې په نمبر نمبر ګرفتاروي ـ ګل ورته ووئيل چې تر کومه پورې به حکومت قام پرست تنګوي او حکومت خو ئې له پخوا راهسې په څۀ نا څۀ طريقه په جېلونو کښې ننباسي او عجيبه عجيبه سزاګانې ورکوي ـ د هر يو قام

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرست ژوند هم دغه رنګ کشالو سره مخ وي او چې تر څو مونږ خپل مرام ته نهٔ يو رسيدلي نو دا رنګ قيصې خو به راسره کيږي او کيږي دې ، يوه ورځ خو به د دې مصيبت نه خلاص شو ـ حکومت به کوم کوم قام پرست په عذابوي ـ کوم کوم به وژني او کهٔ وژني ئې نو نور به پيدا کيږي ـ داسې وخت به راشي چې زمونږ زور ته به د حکومت تخته ټينګه نهٔ شي او مونږ به خپل مرام ته ورسو ـ د خپل حق د حاصلولو د پاره مونږ سره کهٔ څوك هم مرسته کوي مونږ هغوي ته په درنه سترګه ګورو ـ

ګل خو د خپل زړهٔ بړاس داود خان ته وښکلو خو دا ورته پته نهٔ وه چې داود خان هم د سي ايي ډي د پاره مخبري کوي او هره مياشت د هغوي نه خپله تنخوا اخلي ـ ګل او داود خان څهٔ وخته پورې خپلو کښې مجلس وکړو او بيا ګل ترې نه خپل کور ته روان شهٔ خو د ګل په ذهن کښې عجيبه عجيبه سوچونه تلل او راتلل ـ

يو ماښام ګل په کور کښې د ګلالۍ او خپلې بوډۍ مور سره ناست وهٔ ، بوډۍ ئې خوړله نو په خبرو خبرو کښې ګل وئيل چې زمونږ د کور ابادي هم ډېره کمزورې شوې ده ـ د دېوالونو بنيادونه هم ټول زيم دي او چتونو کښې هم برګې ماتې شوې دي يا وښو خوړلي دي نو ښهٔ به دا وي چې دې بل اړخ نه نوې ابادي وکړو ـ مور ئې ورته ووئيل خبره دې بده نهٔ ده خو په نوې ابادۍ ډېرې پېسې لګي زهٔ خو وايم چې دېوالونه به په خټه کښې ووهو او بيا بيا به ئې په سيمټو پلستر کړو ـ دغه رنګ به کور هم نوے شي او پېسې به پرې هم کمې خرچ شي ـ ګل چې ډوډۍ وخوړه نو ګلالۍ ته ئې ووئيل قهوه پخه کړه ـ ګلالۍ ورته وئيل چې توره چائې تياره ده خو دهٔ وئيل چې توره نهٔ څښم او د کله نه چې ئې د بادامي توره چائې پخول ليدلي وو نو له هغې ورځې راهسې خو ئې ترې نه بالکل توبه ايستې وه ـ بادامي به په ښار کښې د چايو يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړوکے شان هوټل چلوۀ. په ښار کښې به ئې چې کومې بې کاره او رنګ شوې چائې مونده نو هغه به ئې استعمالوله. ګل چې نن د کور نه وتۀ نو په لاره کښې ورته يو څو کسان په څاو کښې ناست وو يو دم ئې پرې حمله وکړه او په زور ئې ډاټسن ته واچولو. ګل خپل پوره کوشش وکړو چې مزاحمت وکړي خو وس ئې پرې بر نۀ شۀ. د ګل په ګرفتارۍ کښې د داود خان پوره لاس وۀ ، د کلي ډېرو خلقو دا منظر وليدۀ خو دومره جرات پکښې نۀ وۀ چې د دوي مخې له ورغلي وې ځکه چې ډاټسن سره د پوليس ګاډے هم ولاړ وۀ. يو کس زر د ګل مور له خبر راوړۀ. په مور او ښځه ئې سم قيامت راکوز شۀ او په چغو ئې وژړل. د کلي يو څو مشران راغونډ شول چې يو پکښې شجاع خان ملك هم وۀ ، تانې ته لاړل چې د ګل په حال ځان خبر کړي خو په تانه کښې ګل نۀ وۀ ، نۀ ئې څۀ معلومات وو. شجاع خان SHO ته ووئيل چې رشتيا ووايه زمونږ سړے دې څۀ کړو نو SHO ورته وئيل چې زۀ هډو خبر نۀ يم خو ملك صيب ورته ډېرې سختې خبرې وکړې ورته ئې وئيل چې ستا په علاقه کښې واردات کيږي او تۀ بې غمه ناست ئې. تۀ به د عوامو د مال او ځان څۀ حفاظت وکړې. د کلي نورو مشرانو ملك صيب ته وئيل راځه چې څۀ بله لاره ګودره ولټوو. دغسې د کلي مشرانو تر خپله وسه کوششونه وکړل خو د ګل هډو څۀ اته پته ونۀ لګېده.

د ګل په کور کښې مړے نۀ وۀ او ژړا وه، غم،وۀ، غوغا وه ، په خوبندو عاجزانو ئې چې څۀ تېربدل د بيانولو نۀ دي. په زړونو غلبېل غلبېل وې. ټولې سم ژوندې لاشونه وو. د ګلالۍ خو هډو حال د وئيلو نۀ دے چې څۀ پرې تېربدل. يو ساعت ئې هم ارام نۀ راتۀ. خوبونه ئې حرام شوي وو. د سترګو نه به ئې اوښکو دارې وهلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګل د معلوماتو د پاره د محلت خلقو او په خاصه توګه ملك شجاع خان ډېرې منډې ترړې ووهلې خو د دې باوجود هم د ګل څۀ پته ونۀ لګېده د ګرفتارۍ پوره ۲۹ ورځې تېرې شوې. يو ورځ ملك صيب د يو رشته دار په تعلق د ګل څۀ لږ ډېر معلومات تر لاسه کړل او پته ئې ولګوله چې ګل په ډېره اسماعيل خان جېل کښې بندي دے ؛ تشه په دې خبره اورېدو سره په ګلالۍ او د ګل په مور کښې ساه راغله او د خوېندو ئې هم لاړې تېرې شوې. د ملك صيب په ډاډ او مرسته هغوي ګل سره د ملاقات ترتيب جوړ کړۀ چې د اتوار په ورځ به ډېره اسماعيل خان جېل ته ځي. د اتوار په ورځ سرکاري ناغه وی خو د ملك صيب په مهربانۍ دغه کار څۀ قدرې اسان شۀ.

د اتوار په ورځ سحر وختي ټول کور روان شۀ. ملك صيب د وړاندې نه د خپل يو دوست چې هم په دغه خفيه اداره کښې ملازم وۀ په ذريعه انتظام برابر کړے وۀ خو په جېل کښې د ملاقات د پاره انتظار دومره ډېر شۀ چې په دوي به يوه يوه لمحه د قيامت په شان تېرېده. د پوليس يو سپاهي راغلو او دوي ئې په يو کوټه کښې کښېنول او دا هدايات ئې هم ورکړل چې د ملاقات وخت به صرف ۱۰ منټه وي. په دې کښې ګل په ببړو کښې تړلے دوي له راوستو، په ليدو ئې د مور د زړۀ نه يوه لوخړه پورته شوه او د ګلالۍ حال خو بېخي د مړې په رنګ وۀ. د ګل حالت هم ډېر خراب وۀ. ګل ملك صېب ته وئيل چې تا زما کورنۍ سره په دې سخت وخت کښې ښومره نيکي وکړه نو دا احسان به دې زۀ ټول عمر کښې هم هېر نۀ کړم او مور تۀ ئې وئيل چې خفه کېږه مه خدائے پاك به خبر کړي او د دې ظالمانو نه به مې خدائے زر خلاص کړي. دا خو اللّٰه ته پته ده چې زۀ بې ګناه يم او دوي هسې بندي کړے يم خو زۀ يو پښتون يم او د خپل قام د پاره د دې نه زيات

(c) ketabton.com: The Digital Library

تکلیف برداشت کولو ته تیار یم ، زړهٔ مې په دې ډاډه دے چې د قیامت په ورځ به خپل خدا ے او خپل قام ته ملامته نهٔ یم ـ په خبرو خبرو کښې ګل ګلالۍ ته مخ راواړولو ورته ئې وئیل هېڅ فکر مهٔ کوه بس زما د مور خیال ساته او ښهٔ خدمت ئې کوه ـ په ما به هېڅ چل هم نهٔ کیږي او کهٔ په ما څهٔ وشو هم نو تاسو به زما په مرګ نهٔ ژاړئ او د ژړا په ځاے به خوشحالي کوئ چې زما ژوند د خپل قام د پاره قربان شو او دا به زما او ستاسو خوش قسمتي وي نو پکار به دا وي چې تاسو په دې خبره فخر وکړئ ـ کانستېبل د ګل د بوتلو د پاره راغلو ـ مور ئې ګل خپلې سینې ته راجُخت کړو او په تندي ئې ښکل کړهٔ، ګلالۍ به د حیا نه ډکې سترګې کله لاندې کړې او کله به ئې خپل د ژوند ملګري ته په خاموش نظر کتل ـ سپاهي ګل واپس بوتلو او دوې هم پسې تنه شول ـ دوي د ملك صیب ډېره مننه وکړه او ملك د پولیس والا هم ډېره شکریه ادا کړه او ورته ئې خپل کلي ته د راتلو دعوت ورکړو او دوي پېښور ته رار وان شول ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلورم ټوك

څو ورځې پس بيا ملك هغه افسر ته فون وكړ چې ما له مشوره راكړه چې ګل به د قېد نه څنګه راخلاصوو. هغه ورته ووئيل چې دوه درې مياشتې صبر وكړه خدا ے به خبر كړي زه به درله څه نه څه چل وكړم. ملك صېب ورته ووئيل كه مونږ FIR درج كړو نو بيا به كار اسان نه شي ؟ افسر ورته ووئيل چې پام كوه مونږه له به هم كار وګورې او ګل ته به هم مشكلات پيښ كړې ، ما خو درته يو ځل ووئيل كنه، لږ صبر وكړه زه به درته طريقه راجوړه كړم . ملك صېب ورته ووئيل چې څنګه ستا خوښه وي هم هغه رنګ به سمه وي.

څو ورځې پس حاجي ګلاب خان هم وفات شه، ډېر عمر ئې په كټ كښې تېر كړ او اخر په هغه لاره لاړ چې زمونږ د ټولو پرې ايمان دے. ګلالۍ غريبه يو اړخ ته د خاوند بندي كېدو لېونۍ كړې وه او بل اړخ ته پرې د پلار د مرګ دروند بار راپرېوته چې هغه ئې ډېره ناتوانه كړه . اوس هغې ته ځان ډېر يواځې ښكارېده خو څه ئې كړې وې ، په لوے امتحان كښې راګېره وه . دغه كېفيت د ګلالۍ د مور هم وه . څه خو هغه د خاوند د مرګ نه پس په دې كور كښې يواځې اوسېده او هره ورځ به د خاوند تربورانو په نوي نوي ډول تنګوله ، كه د دغه تربرانو به پرې نور وس نه رسېده نو د شپې به ئې ورته ناوخته ور وهلو ، كاڼي به ئې وركره ويشتل. بوډۍ اخر په دې مجبوره شوه چې كور خرڅ كړي او هم دغسې وشول ، لاړه او لور كره دېره شوه . د كور د خرڅ په پېسو كښې چې پرې څه قرضونه ورباندې وو هغه ئې پكښې اول خلاص كړل او نورې پېسې ئې ګلالۍ له وركړې . اوس هغه د زوم كره اوسېده . د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګل مور د ګلالۍ مور ته ووئيل چې ښهٔ دې وکړل چې دلته راغلې دا هم ستا خپل کور دے چې دلته د هيڅ خبرې غم ونهٔ کړې.

د ګل درې واړه خوېندو هم د خپل نيازبين ورور له غمه په بده ورځ وې. ګل خو هغوي د پاره ورور هم وهٔ او پلار هم ځکه خو به چې دوي ورور وليدهٔ نو د پلار مينه به ئې پرې هم ماتوله. د سلطانې خاوند به د ټاټکي مزدوري کوله او غريب به اکثر رنځور وهٔ. دومره مزدوري به ئې کوله چې ايله وخت به ئې پرې تېرېدهٔ. د دارو درملو وس ئې هم نهٔ کېدهٔ خو ګل به ورسره هميشه لاس امداد کولو. اوس چې هغه کوم ټيکدار له د کار د پاره ورځي نو چې رنځور غاړي ته وګوري نو د کار انکار ورته وکړي. يو ګل سره څومره خپل خپلوان په تکليف کښې مبتلا شو د دې نه يو خدائے خبر وهٔ.

د ګل دوېمه خور نيازمينه وه. د هغې خاوند به په ژرنده کښې مزدورې کوله. د دوي يو زوے او دوه لوڼه وې. ډېر په کړاو ئې ژوند تېرېدهٔ. د کرائې په کور کښې اوسېدل.

د ګل بله خور فريده هم په بخت ډېره مړنۍ نهٔ وه خاوند ئې نشه ئي او جوار ګر سړے وهٔ. د دې عاجزې حال خو د دغه دوه نورو خوېندو نه زيات بدتر وهٔ او ډېره د ترس قابله وه. د کور لوښي لرګي ترې خاوند خرڅ کړي وو او چې څهٔ به ئې لاس له ورتلل نو هيله به ئې پرې نهٔ کوله. ګل به ورته کله کله ستغې سپورې وکړې نو ګوزاره به ئې وکړه خو اوس چې هغه د مخې نه ډډې ته شوې وهٔ نو د فريدې بس د خدائے اسره وه او حال ئې ډېر قابل رحم وهٔ.

د خدائے د طرف نه امتحانات وو کهٔ ګل د سي ائی ډي په ګرفت کښې نهٔ وې راغلے نو د دې خوارانو ورځ به دومره هم نهٔ وه بده خو سختې پسې راحته وي کله خو به پرې خدائے پاك مهربانه شي ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې هغه ډېر مهربانه بادشاه دے ـ د هغهٔ د ګرفتارۍ دوه نیمې میاشتې پوره شوې ـ په ګلالۍ باندې شپې ورځې ډېرې بدې تېرېدې ـ یوه یوه لمحه به پرې د کال هومره اوږده تېرېده ـ ښتنه ښځه وه په ډېر لوے همت ئې د هجران غم په زړهٔ تېروهٔ ـ کهٔ زړهٔ به ئې ډک شو نو پټ پټ به ئې وژړل خو خپل غم ئې د بل چا په وړاندې نهٔ څرګندوهٔ ـ د ګل مور خو د هغهٔ د ګرفتارۍ نه پس د مصلې څنګ نیولے وهٔ ـ د قران شریف ختمونه او نفلي روژې ئې شروع کړې وې ـ شپه به پرې ورځ وه او ورځ به پرې شپه ـ د ژوند په چل نهٔ پوهېده چې څهٔ وکړي ـ

یوه ورځ د ګل ملګرے ضیا د سحر د نمونځ نه پس پټهو ته تلو چې مال له ګیا راوړې چې د نهر غاړې له ورسېدهٔ نو څهٔ ګوري چې یو سړے پړ مخ بې هوشه پروت دے او ډېره په بده ورځ دے په وجود کښې ئې ورغ ځاے نشته اندام اندام ئې زخم زخم دے ـ په غاړه پورې جامې ئې ډېرې خیرنې دي ـ ضیا د دهٔ خواله ډېر په هیبت راغلو او دے ئې په مزکه سم راواړولو چې په غور ئې وکتل نو هغه ګل وهٔ ـ په دو دو کلي ته واپس راغلو ، خلق ئې خبر کړل او د هغهٔ د راوړو د پاره ئې کټ هم د ځان سره واخستهٔ ـ سحر وختي وهٔ ، ډاکټر پسې ئې څوک ولېږل ـ ډاکټر چې راغلو نو اول ئې د ګل جائزه واخسته او بیا ئې ورله نبض وکتهٔ ـ په تلوار ئې وئیل چې دې هسپتال ته ورسوئ ـ ډاکټر صبب ولاړو کسانو ته وئیل چې سړے روغ دے خو ډېر زیات تشدد پرې شوے دے ، انشاء الله چې ښهٔ به شي ـ ګل چې څهٔ لږ په هوش کښې راغلو نو څوک په منډه لاړهٔ او مور ته ئې ورله خبر ورکړهٔ ـ مور او ښځې چې د ګل حالت ته وکتل نو په سر مخ ئې راکېښودل ، بې واره بې واره ئې چغې کړې د چم ګاونډ خلق هم راچلېدل ـ د کور نه بهر د سړو ګڼه ګوڼه جوړه شوه ـ ګلالۍ د ګل د کټ خواله راغله ، ورو غوندې د هغهٔ تر څنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښیناسته او د هغهٔ لاسونه ئې په خپلو لاسونو کښې ونیول ـ د لوپټې په پلو ئې اوښکې اوچې کړې ـ د ګلالۍ مور ورله تسلي ورکړه ورته ئې وئیل چې شکر وباسئ چې تر کوره راورسېدهٔ ـ خدائے به ئې جوړ کړي تاسو وار مهٔ خطا کوئ ـ د ګل خوبندې هم په یوه چغه په کور رادننه شوې ـ مشرانو ښځو کومې چې په حوصله وې هغوي ختمونه وظیفې او دعاګانې شروع کړې څوك په نفلونو اودرېدې او څوك د ګل د کټ نه چاپېره ولاړې وې ـ ګل له مور تاودهٔ پئې ورکړل او ګلالۍ ورله زخمونه ټکور کړل ـ د هغهٔ سینه لږه ګرمه شوه ، سترګې ئې راپورته کړې ، ګېر چاپېره ئې وکتل ، ځان سره لږ غوندې مسکے شهٔ او بیا ئې ورو غوندې سترګې پټې کړې ـ

په سبا له ګل لږ ساصورت شوے وهٔ ـ خوبندو ورله اوبهٔ تاودې کړې ، مخ لاس ئې ورله ووینځل په سر کښې ئې هم ورله لوند لاس وههٔ ـ ګل دوه ورځې کور کښې ارام وکړهٔ او څهٔ قدرې ګوزاره ئې وشوه ـ په دې دوه ورځو کښې د کلي خلق او خپلو خپلوان په هېڅ د دهٔ تپوس له دوې کره راوچلېدل ـ ګل په دې دوو ورځو کښې دومره شهٔ چې د کټ نه راپاڅېدهٔ او د ګرځېدو جوګه شهٔ ـ ضیا ورله نائی راوستهٔ ، حجامت ئې وکړهٔ او د سر وینښتهٔ ئې ورله هم سم کړل ـ د هغهٔ په رنګ او جوڅه کښې هم تغیر راغلو ـ نن هاغه ورځ هم راغله چې ګل حجرې ته د راوتو قابل شهٔ ـ مور ئې زر د یاسین شریف ختم وکړهٔ او د اوړو او دګوړې حلوه ئې په محلت کښې ووېشله ـ د خدائے پاك شکرونه ئې وویستل چې ګل یو ځل بیا په خپلو پښو د ګرځېدو جوګه شهٔ ـ ګلالۍ د ډېرې خوشحالۍ خپلې اوښکې ضبط نهٔ کړې شوې او په بهو ئې د خپل ژوند ملګري ته ځېر ځېر وکتل ـ په حجره کښې ملګرو ګل سره ډېرې په راستۍ د همدردۍ او غمرازۍ خبرې وکړې ـ خان محمد حاجي صیب د ملك صیب نه چیلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

واخستهٔ او تماکو ئې د واسکټ جېب نه راوېستل ، چیلم ئې تازه کړهٔ او د کش رانښکلو سره ئې خپله خبره هم پېل کړه وئیل ئې بچے شکر دے چې په خېر خېریت خپل کور ته راغلے . اکثر به خلقو د ګل نه پښتنه کوله چې بچے تهٔ ئې په څهٔ جرم کښې ګېر کړے وے ؟ هغهٔ به هر چا ته دغه حال نهٔ وئیل چې د دهٔ جرم کوم یو دے او دے څهٔ غواړي چې د وخت د حکومت د سترګو ازغے دے البته بعضې وخت به څوك پوهه او سنجیده کس ته دهٔ د خپل زړهٔ حال تېر کړهٔ . دهٔ یو ورځ چا ته وئیل چې ماسره پوره دیار لس کسان نور هم وو . زمونږ ګناه دا وه چې مونږه د خپل قام د پاره هلې ځلې کوو او د خپلو وسائلو تر لاسه کولو د پاره مبارزه کوو مطلب دا چې مونږ له اللّٰه پاك کوم نعمتونه راکړي دي نو په هغې باندې خپل حق تسلیمول غواړو لکه د مثال په توګه اباسین زمونږ دے او اوبهٔ ئې مونږ نهٔ شو استعمالولې بلکې ټول پنجاب پرې خړوبېږي . زمونږ وطن اوچ کړس پروت دے او کهٔ څهٔ نه څهٔ اوبهٔ په استعمال کښې دي نو دا د هغوي د ضرورت نه سېوا دي یا بیا جهان ته ښائی چې مونږ زیاتے نهٔ کوو . د اوبو نه چې د بجلۍ په نوم کومه توانائي جوړېږي د هغې صورت حال څهٔ دے د هغې نه خو ټول جهان خبر دے او په دغه بجلۍ کښې چې مونږ ئې پېدا کوو په استعمال کښې ئې مونږ څومره بااختیاره یو . عجیبه خبره دا ده چې دغه بریښنا چې په ډېر کم قیمت سره دلته پېدا کېږي یا خو دلته د سره شته نه او کهٔ څهٔ لږه ډېره شته هم نو د هغې قیمت ډېر او ګران دے . ګل به کله کله دغه مجلس کوهٔ او د حجرې خلق به ورته غلي ناست وو . دهٔ به وئیل زما او زما د ملګرو جرم صرف دغه دے یعنې ساده مطلب ئې دا دے چې زما په جېب کښې د لسو روپو کوم نوټ دے نو دے خو زما ولې د خرڅ حق ئې زهٔ نهٔ لرم او کهٔ زهٔ په دې خبره احتجاج کوم نو بیا کافر هم یم ، غدار هم ، ګناهګار هم او سزا وار هم . دهٔ وئیل چې کهٔ مونږ په خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

معدنیاتو او اوبو اختیار ولرو نو لرې نه ده چې مونږ خوراکې مواد نورو ګاونډي هېوادونو ته ورکوو - په دې وطن کښې مونږ سره ډېر ظلم روان دے ، دلته ډېر د جبر نظام دے او کله هم چې مونږ د دغه نظام د جبر او ظلم خلاف اواز اوچتوو نو خلق به راځي مونږ به ګرفتاروي، وهي به مو ، تشدد به راباندې کوي او زوري به مو خو دا خبره هم ډېره واضحه ده چې مونږ او زمونږ مشرانو هر کله ډېرې قربانۍ ورکړې او ورکوي ئې مونږ ویرېدونکي نۀ یو چې په دې دهمکو دړکو به مونږ خلق د خپل مرام نه لرې باسې - ګل په یوه بله موقع وئیل چې زمونږ د غرونو او ځنګلونو بې حسابه دولت هم زمونږ د قدرت نه بهر دے او مونږ ئې د خپل قام په خدمت کښې نۀ شو راوستے - زمونږ ماشومان د بستې په ځاے د پالش بکسه په غاړه ګرځوي او په هوټلونو او مستري خانو کښې په جبرې خدمت مجبور دي چې هلته ئې هره نمونه استحصال کیږي - ګل سکندر ماما ته ووئیل چې تاسو چې دا کوم تمباکو په چیلم کښې استمالوئ دا هم زمونږ د خپل وطن پېداوار دے خو دلته معامله داسې ده چې په ټول ملك باندې یو استعمارې قوت پنجې خښې کړې دي او داسې ناورین ئې جوړ کړے دے چې اسرائیل به ئې په فلسطینیانو هم نۀ کوي - ګل به اکثر دا خبره ډېره په افسوس کوله چې زمونږ بچې په خپله مورنۍ ژبه کښې تعلیم هم نۀ شي حاصلولې - پښتو کښې یو بل سره خبرې خو کوو ولې نۀ ئې لوستے شو نۀ ئې لیکلے شو او هغه د خوشحال بابا خبره چې :

په یوه ژبه وئیل سره پښتو کړو
ولې هېڅ نۀ شو له یو بل خبردار

په دې لړ کښې د ټول جهان د زده کړې او تحصیل علم قیصه نوره ده - دلته خو خلق زمونږ د وطن خپل نوم هم نۀ مني او نۀ ئې راکوي - د ظلم انتها خو دا ده چې وطن زمونږ دے او نوم ورته د نورو په خوښه اخلو - ګل

(c) ketabton.com: The Digital Library

به د ډېر جوش نه په سر دواړه لاسونه راښکل او په ډېر پُرامېد انداز کښې به ئې وئيل چې هغه ورځ لرې نهٔ ده چې د تيارو سينه وشليږي او دلته رڼا راشي خو دا کار به لوے همت او يو لوے بغاوت غواړي.

ګل به د خپلې ګرفتارۍ په حقله ډېرې کمې خبرې کولې او که چا به ترې پښتنه وکړه نو په ځاے د دې چې خپل فرياد وکړي د وطن خبرې به ئې شروع کړې. يو ځل ئې خپلو خاص ملګريو ته وئيل چې کله زهٔ نامعلومه خلقو ګرفتار کړم نو ما ته دا پته هغه وخت ولګېده چې زما په سر مخبري چا کړې ده خو په هر قام کښې د مير صادق او مير جعفر رنګې خلق وي. دهٔ زياته کړه چې زهٔ ئې کله بوتلم نو په يوه وړه شان کوټه کښې ئې بند کړم. دوه ورځې ئې راله هيڅ نهٔ راکول. بيا ئې يو حوالات ته راوستم. دلته د لوږې نه ډېر په عذاب شوم او تندې هم په مخه اخستے وم. په وجود کښې مې يو پوټے زور هم نهٔ وهٔ. د حوالات دروازه چې راپسې ځنګه بنده شوه او ما ګېر چاپېر وکتل نو لس دولس ځايه په چت پورې د مچو ګبينونه نښتي وو. يو وخت پوهه نهٔ وم چې څهٔ وخت به وهٔ خو بې اختياره مې د خلې نه ووتل چې د خداے ظالمانو لږې اوبهٔ خو راکړئ. اول خو ئې راله جواب نهٔ راکوهٔ خو چې ډېر مې تنګ کړل نو سنتري لاړو او تانه دار ته ئې اوئيل او واپس هم دغسې راغلو. لږ ساعت پس تانه دار په جام کښې څهٔ راروان کړي وو زما زړهٔ ډېر ښهٔ شهٔ خو چې ما له ئې جنګله کښې راکړهٔ او ورته مې وکتل نو داسې بدبوي ترې راغله چې زر مې ښکته ګوزار کړهٔ. د اوبو په ځاے ئې راله متيازې راوړې. زهٔ ورته په کنځلو سر شوم او چې څهٔ په خلهٔ راتلل هغه مې ورته وئيل. زما په شور د تانې نوره عمله هم راغله ، ټولو راپورې داسې خندل لکه چې زهٔ لېونے يم. دغه شپه راباندې ډېره سخته تېره شوه او چې سحر شهٔ نو يو لوے افسر راغے نېغ دفتر ته لاړهٔ هلته چې تانه دار سره په خبرو شهٔ او څهٔ وخت چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې په ما نظر پربوتهٔ ، تاڼه دار ته ئې څهٔ وئیل خو زهٔ په دومره اندازه پوهه شوم چې زما په حقله ئې ورته څهٔ وئیل خو دا پته ونهٔ لګېده چې څهٔ ئې ورته وئیل. د افسر د تلو نه پس یو سپاهي راله لږه ډوډۍ او مالګه راوړه او ما په بسم الله وخوړه. اوبهٔ ئې راله هم راوړې ،هغه مې هم وڅښلې او په وجود کښې مې لږه ساه راغله چې په زمکه کښیناستم نو خوب راله راغلو او خپل لاس مې سر ته کښېبود ، پرکاله شوم او بیا د خوب په جزیرو کښې ورګډ شوم چې تر ډېره وخته پکښې وګرځېدم. یو سپاهي په لته باندې راپاڅولم او بلې تاڼې ته ئې راوان کړم. هلته د حوالات حال د دې تاڼې نه هم بد تر وهٔ. ګندګي ، بد بویي او بد اخلاقي د تاڼې په ټول ماحول قبضه کړې وه او انسانیت پکښې تر لرې لرې نهٔ ښکارېدهٔ. دلته زهٔ د تفتیش په غرض راوستے شوے وم خو ما په خلهٔ د چپ مهر وهلے وهٔ کهٔ دوي به رانه هر څهٔ تپوس کوهٔ خو جواب مې نهٔ ورکوهٔ. څهٔ زما خپل سوچ وهٔ او څهٔ زما د سیاسي تربیت وجه وه چې ویرېدمه نه او ښهٔ نبغ نبغ به مې ورته کاتهٔ او خاموش به وم البته دلته زما د وهلو سلسله شروع شوه او هاغه بدترین تشدد راباندې وشهٔ چې زما ژبه ئې د اظهار توان نهٔ لري. البته زهٔ په دې نتیجه ورسېدم چې دوي زما په حقله پوره معلومات لري زما د سیاسي مسلك ،زما د سوچ او ډلې نه پوره خبر دي. یوه ورځ مې یو افسر ته د تفتیش په دوران کښې اوئیل چې زما په حقله پولیس ټول معلومات لري نو زما نه د تپوسونو کولو څهٔ مطلب دے ؟ خو چې څهٔ مو خوښه وي کوئ راسره. د هغوي مطلب دا وهٔ چې زهٔ د خپلو مشرانو نومونه واخلم د دې د پاره به ئې ماله لالچ هم راکړهٔ ، ترغیب هم او دوړه دباو هم. د دې ځاے نه زهٔ به یو بل جېل ته یوړے شوم هلته کښې څو ورځې وم خو په داسې حال کښې چې خداے دې ترې نه څوك هم نهٔ خبروي. بیا نهٔ یم خبر چې په کومه طریقه ئې زهٔ په پټو کښې غورځولے وم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو چې په هوش کښې راغلم نو په کټ کښې پروت وم او څو تنو په اوږو راخستے کور ته راوړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځم ټوك

نن چې د ماسخوتن نمونځ وشو نو ګل بيا حجرې ته راوته. مشران ناست وو او د بحث موضوع ګل او د هغه ګرفتاري ، د هغه نظريات او د هغوي تګ لاره وه. د سلام اچولو نه پس ګل په يو خالي کټ کښې کښېناسته. عبدالحليم چې د ګل همځولے وه د ګل نه د هغه نورو ملګرو په حقله پښتنه وکړه چې هم ده سره يو ځاے ګرفتار شوي وو. ده ورته اوئيل چې زه خو ترې نه يم خبر خو اندازه داسې ده کوم سلوك چې ماسره شوے دے دغه حال به د هغوي هم وي. د حجرې مجلس شروع وه چې د ګل مازغو ته داود خان راغلو ، پوښتنه ئې وکړه چې هغه نه ښکاري ؟ عبدالجبل ورته اوئيل ورك ئې کړه مړه هغه څه خداے وهلے دے. په کور کښې ئې جنګ جګړې شروع دي په بده ورځ دے هډو سر تندے ئې نه لګي. ارشاد خان وئيل چې هغه د حکومت د پاره جاسوسي کوي او بې ګناه خلق زوروي. ګل د هغه د خبرې مرسته وکړه خو په دې حقله ئې خپله رائې څرګنده نه کړه او غلے پاتې شه.

د ګل د ګرفتارۍ به داسې څلور څلورنيمې مياشتې شوې وې چې يوه شپه پرې درد راغلو او ډېر ئې په تکليف کښې کړه. د شپې ناوخته ئې د ګاونډي په مدد ورله د کلي ډاکټر راوسته ، هغه ئې معائينه وکړه. انجکشن ئې ورته ولګوه ولې نور په پته پوهه نه شو خو ورته ئې وئيل چې دې ستنې سره به د ده ارام راشي خو سحر ئې د وخته هسپتال ته ورسوئ چې ټسټونه ئې وشي او د مرض صحي حال ئې معلوم شي. دوي هم دغسې وکړل. هسپتال کښې ورته د الټراساونډ نه معلومه شوه چې د ګل دواړه ګردې زيانمنې دي. ده ته به په پختورګو کښې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېره وخته درد کېدۀ خو دۀ کله هم دغه درد په ځان نۀ وۀ حاوي کړے. دا درد به دۀ ته د ګرفتارۍ په دوران کښې د تشدد نه پس محسوسېدۀ خو اوس دغه درد دې ځاے ته ورسېدۀ چې په کټ ئې پرې ابستۀ. ډاکټر خو د ګل په مخکښې د څۀ خدشې اظهار ونۀ کړۀ خو احمدخان ته ئې ځان له وئیل چې د ګل پختورګي ببخي ناکاره شوي دي اوس د علاج له کوره وتي دي ، ډائلاسېس باندې به اچول پکار وي خو څه چې تر کومه ګوذاره کېده نو دارو دې خوري.

ګل ته هم د خپل ځان او صحت اندازه وه ځکه چې ورځ تر ورځ به کمزورے کېدۀ. یوه ورځ ئې ګلالۍ ته اوئیل چې زما صحت ما ته ډېر ښۀ نۀ ښکاري خو د جوړېدو طمع مې قطع نۀ ده. مرګ شته خلاصې ترې نشته خو کۀ خداے مۀ کړه زۀ ښکته پورته شوم نو تۀ پښتنه ښځه ئې او پښتنې عمر له د مېړۀ په پت کښې ناستې وي ما ته دا اندازه لګي چې تا به هم خداے جوړه کړي. خداے دې په خبر جوړه کړه خو کۀ هلك دې وشۀ نو نوم ورله سالار کېده او کۀ جینۍ وه نو په خپله خوښه ورله نوم کېده او داسې خسمانه ئې وکړه چې د دنیا خلق حېران شي. زما په تا یقین دے خو دا خبرې مې هسې زړۀ له راغلې، زما له خوا درته اجازت دے چې ځان له د ژوند ملګرے په خپله خوښ کړه ځکه چې ژوند ګران دے ، داسې به تېر نۀ شي. ګلالۍ خبرې خو په غور واورېدې خو داسې بې واره ئې د سترګو نه اوښکې راروانې شوې لکه د پشکال د باران شېبې. هغې ګل ته اوئیل ما ته داسې خبرې مۀ کوه ، زما زړۀ پرېوځي. خو ګل ورته وئیل چې څۀ حقیقت وي پکار ده چې بنده ئې تسلیم کړي.

هغه ورځ هم راغله چې په ګلالۍ د ګونډې اواز وشۀ. د ګل مور بوره شوه او ګل د خاورو څادر واغوستۀ. د ګلالۍ نه د عمر د پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

خندا او خوشحالۍ مخ واړوهٔ. د ګل مور په مرګ ویرژړلې بلا یو ځل بیا په سپېرهٔ سپېړه ووهله. د ګل خوبندې خو په ژوندنې مړې وې.

ګل د خوشحالۍ یو اځینی اسره پاتې وه چې د ټول غم لړلي ټبر سترګې وې ورته. په کومه ورځ چې د ګل په کور کښې د ګل د نخښې د پېدا کېدو نعره وشوه نو دغه ورځ د خوشحالۍ هم وه او د غم هم. خوشحالي دا وه چې د ګل زوے پېدا شو خو ګل نهٔ وهٔ. د ګلالۍ غېږه ډکه شوه خو سر ئې هم هاغسې سرتور وهٔ. د دنیا نظام روان وهٔ. د غم زور کمېږي خو څهٔ غمونه داسې وي چې د هېرېدو نهٔ وي. د ګل مرګ هم داسې وهٔ خو د هغهٔ سالار چې لوېدهٔ نو د پلار د جدایۍ په دروند غم ئې ورو ورو ګردونه پرېوتل. سالار سکول ته د تلو جوګه شهٔ او هغه ورځ هم راغله چې سالار په سکول کښېنولے شهٔ. د ګلالۍ مور به سحر بوتلو او غرمه به ئې راوستهٔ. د ګلالۍ خپل کور سره یو وړوکے غوندې کوارټر وهٔ هغه ئې د بره وطن افغانانو له په کرایه ورکړهٔ. دغه کور کښې دوه هلکان او دوه جینکۍ وې هغوي به هم سکول ته تلل چې د سالار د سکول او د لارې ملګري شول. په دغه دوه وړو کښې یو ماشوم د دغه ښځې مېړنې زوے وهٔ چې نوم ئې ساحل وهٔ او د مور سلوك ورسره ښهٔ نهٔ وهٔ ځکه چې مور مېره شې نو پلار پلندر شي. ساحل د دغه کور د نورو وړو په نسبت زیات شریف هم او ښائسته هم وهٔ. سالار سره به ئې طبع ډېره لګېده ، سکول کښې به هم یو ځاے وو او د سکول نه پس به ئې هم دوي کره لوبې کولې. د ساحل ژوند د مېرې مور د سپورې لاندې سم نهٔ تېرېدهٔ. دا خبره به ګلالۍ هم محسوسوله خو په پردي کور کښې ئې کار نهٔ لرهٔ البته د سالار سره سره به ئې د ساحل د خوراك څښاك هم خیال ساتهٔ خو چرته خپل کور او چرته د بل کور. مېره به په دې هم خوشحاله نهٔ وه چې د ساحل دې څوك خیال ساتي. ګلالۍ په ساحل او سالار کښې فرق نهٔ کوهٔ دواړو ته به ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو شان کتل ـ د دواړو جامه پېزار ، خرچ خوراك ، کتاب کاپي ، سکول او بازار عن دا چې هغې ساحل هم خپل زوے گڼهٔ ـ بل خوا د ساحل د مېړې مور خيال دا وهٔ چې دوي ساحل مستوي او سبا به راته په سر خېژي ـ په اصل کښې د ساحل ژوند ډېر مشکل وهٔ ، د هغهٔ قصور دا وهٔ چې د هغهٔ خپله مور مړه شوې وه ـ سالار سره د ملګري کېدو نه اګاهو د هغهٔ ژوند ډېر ګران وهٔ او بې انتها کړاو سره مخامخ وهٔ ـ يوه محرومي نهٔ وه چې هغهٔ ئې د لړزان سره نهٔ وهٔ مخامخ کړے خو خدا ے مهربانه بادشاه دے ، د چا نه چې څهٔ اخلي نو څهٔ ورکوي هم او ساحل ته ئې د سالار په شکل کښې ورور او د ګلالۍ په شکل کښې مور ورکړې وه ـ

يوه ورځ پس د ساحل مېره مور دوي کره راغله او جواب ئې ورکړو چې مونږ به درې ورځې پس کلهٔ وړو او بره وطن ته واپس ځو ـ د سالار نيا ترې تپوس وکړو چې د کلې وړو وجه څهٔ ده ؟ خېر خو دے کنه ؟ هغې ورته وئيل چې په کلي کښې مې خاوند باغونه اخستي دي ، د هغې د سنبالښت د پاره زمونږ موجودګي هلته ضروري ده ـ په اصل کښې هغوي د دوي په کلهٔو وړو حېران نهٔ وو خو د ساحل ورسره غم وهٔ ـ دلته خو به ئې دوي څهٔ نه څهٔ خيال ساتلو خو خدا ے خبر چې هلته به ئې څهٔ حال وي ـ

په هغه ماښام چې ساحل دې کلهٔو يوړه، سالار ډېر خفه وهٔ او په دغه شپه ئې ډوډۍ هم ونهٔ خوړه او اودهٔ شهٔ ـ سحر ګلالۍ ځان ته رانزدې کړهٔ او تپوس ئې ترې وکړهٔ چې په ساحل پسې خفه ئې ؟ سالار ورته په خلهٔ څهٔ ونهٔ وئيل خو د سترګو نه ئې برغې برغې اوښکې راتوې شوې چې مور ئې هم زړهٔ ټينګ نهٔ کړے شه ـ مور او زوي يو شان وژړل ـ ساحل هغوي سره ډېر اموختنه شوے وهٔ او دوي هم هغه کله پردے نهٔ وهٔ ګڼلے ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم ټوك

هغه وخت ټول حیران شو چې کله سالار سحر جومات ته لاړ نو
څۀ ګوري چې ساحل د جومات په ګوټ کښې غلے ناست دے او سیپاره
ئې مخې ته ایښې ده ـ د سالار چې څنګه ساحل په نظر راغلو نو واپس ئې
کور ته رامنډه کړه او په یوه چغه ئې د کوځې نه مور ته نعرې کړې ـ مورې!
ـــــ مورې! ـــــ وه مورې! ساحل خو په جومات کښې دے ، هغه خو نۀ
دے تلے ـ مور ئې کوځې طرف ته په دو راځ روانه شوه ـ
څۀ ګوري چې په دې کښې ساحل په کوځه رادننه شۀ او ګلالۍ داسې
خپل ځان ته راجُخت کړۀ تا به نۀ وئیل چې دا پردے زوے دے ـ بې واره
بې واره ئې په مخ او سر ښکل کړۀ ـ سالار ترې نه داسې جُخت لاسونه
چاپېر کړل لکه چې ډېره زمانه پس دوه ورك شوي وروڼه یو ځاے شوي
وي ـ

د سالار نیا هم ډېر خوشحاله شوه خو لږ ساعت پس ئې نرۍور ته
اوئیل کۀ په دۀ پسې پلار راشي نو دا خبره به ضرور کوي چې دا مونږ
پاتې کړے دے نو دغه وخت به هغۀ له څۀ جواب ورکوو ـ ساحل ورته
وئیل ادې غم مۀ کوه زۀ به ورته وایم چې زۀ په خپله پاتې شوے یم ـ زۀ
هغوي سره نۀ ځم ـ زما دا کور دے ، سالار زما ورور دے ، زۀ هلته نۀ ځم ـ

د سکول په دوران کښې چې به کله هم د پلارانو ذکر راغلو نو
ساحل او سالار به دواړه د یو شان کیفیت نه تېرېدل خو دواړو په ژوند
کښې ډېرې تاودې سړې لیدلے وې نو د عمرونو په لحاظ خو دواړه واړۀ
وو ولې د حوصلې په حساب د غر برابر وو ـ عجیبه خبره خو داوه چې د
ساحل مور پلار هډو دۀ پسې په شا ونۀ کتل ، هډو تپوس ئې ونۀ کړۀ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ نه وروستو څوك پاتې دي كنه ؟ خو چې تلي دي نو ساحل ئې هېر كړے دے او داسې ئې هېر كړے لكه چې دے هډو وۀ نه.

وخت روان وۀ. ساحل او سالار د ځوانۍ په درشل قدمونه كېښودل. سالار په ديارلسم جماعت كښې او ساحل په دولسم جماعت كښې سبقونه وئيل. دواړه ډېر همتناك هم وو د سبق وئيلو سره سره به ئې د پټي په كار كښې هم دلچسپي اخسته. هر څو كۀ مور به منع كول خو هغه به ئې قائله كړه او د هغې ويره يا خدشات به ئې رفع كړل. دې سره سره به دواړه كمپيوټر او انګلش لېنګويج سنټر ته هم تلل. په خپلو همځولو كښې ډېر په ښو نومونو يادېدل او نورو خلقو به هم خپلو بچو ته د مثال په توګه وړاندې كول. د جومات په خدمت كښې به هم د هر چا نه وړاندې وو. نمونځ له به په باقاعدګۍ سره تلل او د قران پاك تلاوت به ئې هم كوو.

په لېنګويج سنټر كښې د ساحل يو ملګرے وه، مشال نوم ئې وۀ. دوي دواړه چې د لينګويج سنټر نه فارغ شو نو دواړو ځان له په ارباب روډ كښې يو سنټر جوړ كړۀ. د سنټر كار ښۀ روان شو او ډېرو هلكانو او جينكو پكښې داخلې واخستې. او معقوله امدني به ئې لاس ته راتله. ساحل به خپله ټوله امدني مور له وركوله او د كور لګښت په ښۀ توګه سر ته روان وۀ او د ژوند ګرېډ ئې په ښۀ ډول تېرېدې.

يوه ورځ چې سالار د كور زوړ سامان لټوۀ نو په كاغذونو كښې ئې د پلار هغه خط هم راوتۀ چې د مرګ نه وړاندې ئې د وصيت په طور ليكلے وۀ. په خط كښې ئې ليكلي وو چې بچے تۀ دا فكر ونۀ كړے چې ستا پلار مړ دے ، نه ستا پلار ژوندے دے او تا سره دے. هېڅ غم مۀ كوه او همت كوه ځكه چې ځوانان په همت او محنت ښۀ ښكاري. ستا د پاره پښتون قام او پښتونخوا خاوره هر څۀ هر څۀ دي. په دې باندې به تۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپل پلار او د مور مینه ماتوې. تهٔ به په خپله هم یو پتنګ ئې چې د خپل وطن د پاره به اور ته دانګې او ستا ملګري به هم پتنګان وي. تهٔ به د پښتون قام شمله اوچته ساتې ، ستا د ژوند قصه به د افغان وطن د ننګ او عزت خیال ساتل وي. تا ته به همېشه د خپلو اتلانو مثالونه مثالونه وي. او تهٔ به د دغه مثالونو بل ساتلو د پاره خپله وینه ورکوې او دا به بل ساتې. کله چې تهٔ په داسې حالاتو کښې تنګ شې ، بې وسه شې او د هر طرف نه دربانديې مزکه تنګه شي او تورې تیارې شي نو بیا به هم تهٔ د خپل مرام نه مخ نهٔ اړوې. دا زما وصیت هم وګڼه او ارمان هم.

سالار چې څنګه خط ولوستهٔ نو یو ساعت ئې په لاس کښې نیولے وهٔ او حیران حیران ئې ورته کتل او په ډېر ډونګې سوچ کښې لاړ خو د مور په اواز د سوچونو د سمندر نه راوتهٔ ، خط ئې په جیب کښې واچوهٔ او په پاڅېدو پاڅېدو کښې ئې ځان سره عزم وکړهٔ او خپل پلار ته مخاطب شهٔ چې بابا زهٔ به ستا هر یو ارمان پوره کوم او د خپل وطن د پاره به د هېڅ قسمه قربانۍ نه مخ نهٔ اړوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم ټوك

ګلالۍ له پلار يو ګوتمه ورکړې وه چې هغه ئې د لاس نه ووېسته او ساحل ته ئې ورکړه چې بچې دا زما له طرفه ستا د پاره نخښه ده او چې کله هم زهٔ درسره نهٔ یم نو دا به زما یاد درکوي ـ ساحل ورته ووئیل چې خدا ے دې نهٔ کړي مورې چې تهٔ او زهٔ به سره بیل شو او ګوتمه ئې د مور نه واخسته ، په ډکو سترګو ئې شونډو له یوړه ، ښکل ئې کړه او بیا ئې مور ته واپس کړه چې دا زما ده خو تهٔ ئې ځان سره کېږده ، چې کله مې درنه وغوښته نو را به ئې کړې۔

ساحل او سالار دواړه کور کښې ناست وو، قهوه ئې څښله او په خبرو کښې مشغول وو ـ په خبرو خبرو کښې ورته ساحل وئیل چې سالاره زما خیال دے چې زهٔ د UK د پاره اپلائی وکړم ستاسو څنګه خوښه ده ـ کهٔ سمے ئې وخوړ نو سبق به هم ووایم او دلته به تا سو له څهٔ ښهٔ ژوند هم پېدا کړم ـ د ګلالۍ خو زړهٔ نهٔ وهٔ خو سالار په دې خبره رضا وهٔ او مور ئې هم په دې پوهه کړه چې ساحل کومه خبره کوي ، ډېره بده نهٔ ده ځکه چې دې سره به د هغهٔ ژوند هم جوړ شي او تهٔ ئې مور ئې نو تا به هم نهٔ هېروي ـ ساحل کوشش شروع کړهٔ او خپل درخواست ئې د لندن په ایمبېسۍ کښې جمع کړهٔ او د خپل پوهنتون او لېنګوېج سنټر کار ئې هم جاري ساتهٔ ـ ساحل ډېر ساهو سړے وهٔ داسې هم د انګلېنډ په طمع نهٔ وهٔ چې ګني ما درخواست ورکړے نهٔ دےاو بس منظور شوے نهٔ دے ـ دغه هوښتیارتیا د هغهٔ د لوے والي غټ ثبوت وهٔ۔

میاشت نیمه پس د ایمبېسۍ نه کال راغلو چې ساحل دې د انټرویو د پاره حاضر شي او چې د انټرویو نه واپس راغلو نو ډېر مطمئن

(c) ketabton.com: The Digital Library

نۀ خو بې طمعې هم نۀ وۀ ـ ځکه چې د هغۀ په انټرويو کښې د سوالونو جوابونه هغۀ دومره په ډاډه زړۀ ورکړل چې سوال کوونکي ئې حيران کړل ـ ساحل چې څۀ وخت دې سوال چې دا يو جمهوري ملك دے په کوم کښې چې تاسو اوسئ په جواب کښې وئيل چې نه زۀ دے ملك ته جمهوري ملك نۀ شم وئيلے ځکه چې دلته پنځۀ لوے قومونه اوسيږي پښتون، بلوچ، سندے، سرائيکے او پنجابے او داسې ځينې واړۀ خو په خپلو وطنونو يو هم اختيار نۀ لري او د مضبوط مرکز په نوم پنجاب يو استعماري قوت دے ، د هر يو استحصال کيږي نو په ظاهره کۀ دلته جمهوري حکومت وي خو په شا ئې نور قوتونه ولاړ وي او د قام او د هغوي د وطن وسائل لوټلے شي ـ دغسې چې ساحل ډېر په تفصيل د خپل وطن د وسائلو ، معدنياتو ، دولتونو ، خوش بختو او بد بختو ذکر وکړۀ نو د هغوي توجه ئې ځان پله راوګرځوله او انټرويو ته ناستو کسانو يو بل ته وکاتۀ ـ

ساحل هم هاغه شان په خپل کار کښې بوخت وۀ لکه چې وړاندې وۀ خو طمع ئې نۀ وه قطع شوې او هم هغه وشو ، وړپسې د کونسل ګرۍ نه اطلاع وشوه چې هغه دې خپل پاسپورټ او نور ضروري کاغذونه دوي سره جمع کړي ـ دۀ داسې وګڼل چې دا د کار کېدو ابتدا ده او کۀ نصيب ئې شوے وي نو ډېر زر به په خپل دغه مقصد کښې کامياب شي ـ هغه ډاډه ځکه وۀ چې د هغۀ حوصلې هغۀ له زړۀ لوے کړے وۀ او هغۀ به اکثر وئيل چې داسې هم کېدے شي چې سړے به د يو کار اراده په ايماندارۍ وکړي او هغه به نۀ کيږي ـ

د ساحل د تلو ورځ راغله خو د ګلالۍ د زړۀ نه يو خدائے خبر وۀ ـ اوښکې وې چې نۀ ودرېدې او ساحل ئې په دې وئيلو مجبور کړو چې کۀ مورې تۀ هم دغه رنګه خفه ئې نو زۀ دغه هر څۀ کېنسل کړم , خو هغې ورته وئيل چې زويه زۀ خو ستا په خوشحالۍ خوشحاله يم ، خفه به ولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

یم خو د بیلتون غم ژاړم. ما خو کله هم دا سوچ نهٔ دے کړے چې ګنې تهٔ زما ځوے نهٔ ئې او نهٔ مې په تا او سالار کښې فرق کړے دے چې تهٔ په تلو خوشحاله ئې نو زهٔ نهٔ خفه کېږم خو خدائے خبر چې ولې زما زړهٔ ویریږی. ساحل او سالار دواړو ورله ډېره تسلي ورکړهٔ.

ساحل د رسېدو سره اول ټېلي فون وکړهٔ چې سالار هېلو وکړل نو په دوېمه خبره ورته ساحل وکړه چې مور له ورکړه او مور ئې کهٔ هر څو زړهٔ کلك کړے وهٔ خو اخر مور وه نو د سلام اغستو نه مخکښې غریو ونیوه او په ژړا ژړا کښې ئې ورته فقط دومره اوئیل چې زویه! هېره دې نهٔ شم ګنې زړهٔ به مې وچوي او ساحل ورته وئیل مور دا به وخت ثابته کړي چې زهٔ ستا او د سالار د پاره څهٔ کوم. په ځان به هره سخته یوسم خو تاسو به رانه هېر نهٔ شئ چې د مور اوښکو ئې د تم کېدو لاره نهٔ نیوه نو فون ترې نه سالار واخستهٔ ورته ئې وئیل تهٔ اوس مسافر ئې پکار ده چې تا له ډاډ در کړي ، دعا درته وکړي نو دا درته ژاړي. زړهٔ ښکته پورته کوه مه زهٔ د دې ډېر خیال ساتم خپله برخه هم او ستا برخه هم البته ستا مینه نهٔ شم ورکولې ځکه چې دغه ستا او د مور معامله ده نو دې کښې به درته دروغژن شم او خړت خړت په خندا شهٔ. بیا ورته ساحل د خپل رسېدو حال، هلته د پاتې کېدو حالات او د پوهنتون ژوند او د نویو ملګریو حال بیان کړهٔ. ډېر ساعت ئې خبرې وکړې او دوي مور او زوي په دعاګانو ساحل وستائیهٔ او خدائے په اماني ئې وکړه.

درې کاله د سترګو په رپ کښې تېر شو. په دې درې کاله کښې به ساحل د سبق وئیلو سره سره څهٔ لږ ډېر کار هم کوهٔ چې د خپل سبق خرچ به ئې هم پوره کوهٔ او کور ته به ئې هم پېسې رالېږلې خو اوس چې د سبق نه فارغ شهٔ نو مستقل کار ئې هم پېدا کړهٔ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سالار چې د معقولې امدنۍ لاره هواره شوه نو د ساحل په صلاح ئې د ,,افغان خبریتا ګوند (افغان اویرنس مومنټ)، په نامه یوه ډله جوړه کړه او ډېر ځوانان ئې پیدا کړهٔ چې دغه کار په مخ بوځي. ګوند یا تنظیم به ورځ تر ورځه ترقي کوله. سالار پوره وخت ورکړے وهٔ او په دې لړ کښې ئې مور هم مدد کوهٔ. د تنظیم د لارې اولس په دې خبره پوهه شهٔ چې په دې وطن کښې مونږ غلامۍ زندګي تېروو او دلته د اوسېدو د پاره یوه سمه دمه معاهده پکار ده چې په کښې سیالي هم وي ، سرلوړي او ازادي هم. د دې تنظیم برکت وهٔ چې په ډېره لږه موده کښې ټول اولس د خپلو ستونځو، کړمو او بد بختیو نه خبر شهٔ.

اوس وخت وهٔ چې اولس د یو لوے انقلاب د پاره تیار شهٔ او د ساحل په یوه چغه درست وطن د هر قسم قربانۍ د پاره تیار وهٔ. په دې حقله په سالار باندې وخت په وخت سخت حالات هم راغلي وو خو هغه د خپل پلار په شان او د هغهٔ د وصیت مطابق ډېر په عزم او حوصله مخ په وړاندې روان وهٔ. نهٔ ویرېدهٔ او نهٔ ستړے کېدهٔ. هغهٔ به هم ډېر په سوچ قدم کېښودهٔ او د هرې معاملې صلاح به ئې ساحل سره په نېټ کوله. هغوي د خپل تنظیم یو وېب سائټ هم جوړ کړے وهٔ او په دغه لړ کښې د ټولې دنیا پښتون افغان ځوان ګُول ته هغوي خپل پېغام رسولے وهٔ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم ټوك

د يوې اوږدې مسافرۍ نه پس ساحل يو ځل بيا د سالار او مور تر مېنځه په خپل كور كښې ناست وۀ. د خپلې مسافرۍ او د دوي نه د جدائۍ خبرې ئې كولې. او مور ئې په جامو كښې نۀ ځائېده، هغه نن ډېره خوشحاله وه. ولې به خوشحاله نۀ وه. هغې ساحل ته د زړۀ نه خپل زوے وئيلي وو او ساحل هم ډېر په راستۍ د هغې د دغه مينې جواب وركړے وۀ.

يو سحر ساحل او سالار چې د نمانځۀ نه پس د جومات نه راوتل نو د چكر په غرض ئې د پټيو مخه ونيوله. په لاره سالار ساحل ته ووئيل چې سېمنار د پاره خو تيارے لرې كنه. دۀ ورته وئيل چې تيارے خو لرم خو پكار دا ده چې د وخته لاړ شو. دغه شان هغوي دواړه كور ته واپس راغلل ، د ناشتې نه پس روان شول. د رسېدو نه پس سالار ځينو ملګريو سره د ساحل پېژندګلو وكړه. په دې سيمنار كښې د مختلفو پارټيو ، او د ژوند د نور شعبو سره تړلو خلقو نمائندګي موجوده وه چې مذهبي او كيڼ لاسي ډلې هم پكښې وې او سيكولر او ترقي پسند جماعتونه هم پكښې وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سیمینار نمائندګانو ډېر په ازاد مټ د خپلو هدفونو او سیاسي مسلکونو اظهار وکړهٔ او هر چا د خپل نقطه نظر له لوري د خپل جماعت د عمل او کردار د خپلو رهبرانو د رهمنائی لوئۍ او بډائی بیانولې. د سیمینار ایجنډه په موجوده وخت کښې د نړي والې وروروولی سره تګ په موضوع جوړه شوې وه خو اکثر ویناکونکیو خپلې ذاتي مسئلې رامخکښې کولې او اوږدهٔ اوږدهٔ تقریرونه به ئې کول. په اصل موضوع یا خو ډېر کسان پوهېدل نه یا د خفیه ایجنسو د "بوو" نه ویرېدل .

کله چې سالار ته د وینا دعوت ورکړے شهٔ نو هغهٔ اول ډېر په هنرمندی د خپل تنظیم تعارف وکړهٔ ، بیا ئې د هغې په کارکردګی رڼا واچوله او بیا ئې په لړه موده کښې په اولس کښې د دغه تنظیم د پیاوړي کېدو په حقله حقائق بیان کړل. د هغې نه وروستو ئې د ایجنډې مطابق خپل خیالات څرګند کړل او په حاضرینو ئې واضحه کړه چې کله مونږ ځان د نړي والې وروروولی په صف کښې د یو ساهو او رسا اولس په توګه نهٔ وي معارفي کړے تر هغې پورې به نړی مونږ ته په شکمن نظر ګوري. دهٔ زیاته کړه چې هر کله مونږ د خپل کور نه د انصاف ابتدا نهٔ وي کړے نو تر هغې مونږ په نړي وال کچ د خپل حېثیت تعین نهٔ شو کولې . منافقت به پرېږدو او حقیقت به په خپله هم تسلیموو او خپل ملګري به هم په دې مجبوروو چې غېر جمهوري طرز عمل پرېږدي او د یویشتمې صدی د غوښتنو مطابق خپل کردار واضحه کړي. د سالار وینا کښې یوه خبره هم داسې نهٔ وه چې یا خو واضحه نهٔ وه یا ئې پرې څوك پوهېدل نه او کهٔ چا پرې ځان نهٔ پوهوهٔ نو دغه به بیله خبره وه خو چې کله هغهٔ د افغانستان د قضیې په تاریخوار ترتیب رڼا واچوله نو د ډېرو "سپین روبو" تندي تراوهٔ شو. د ډېرو خلقو په خېټو کښې د ډالرو ګند ښکاره شهٔ. د دې نه علاوه هغهٔ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

قوم په تشریح او توضیح هم زبردسته رڼا واچوله او د پښتونخوا په تاریخي ، معاشي ، معاشرتي او تهذیبي اهمیت هم په زړهٔ پورې بحث وکړهٔ او کله چې ئې د پښتونخوا په تهذیب، تمدن او د دې ځائے د اولس په بې ارزۍ او نا سیالۍ خبرې کولې نو ډېرو کسانو په خپلو جذباتو قابو ونهٔ موندهٔ او د سترګو نه ئې اوښکې راپرېوتې۔

سالار په حاضرینو غږ وکړهٔ چې په دې لړ کښې په یو لوے بغاوت ، یو ژوندے بغاوت ، یو کوټلے بغاوت ، یو تریتب شوے بغاوت ، یو نر بغاوت ، یو بېدار بغاوت ، یو جاندار بغاوت ، یو شاندار بغاوت او یو پښتون بغاوت پکار وي ، پکار ده چې ټول اولس په یوه خلهٔ ، یو اواز ، یو قدم سره دغه بغاوت ته هرکلے ووایي ، نهٔ یواځې هر کلے ووائی بلکې د خپلې برخې جدوجهد پکښې هم سره ګډ کړي۔ دې وېنا سره د لاسونو داسې پړکا شروع شوه چې اواز ئې د استعماري قوتونو خوبونه حرام کړل۔

د دې نه پس چې کوم مقررین د وینا د پاره راغلهٔ نو د سالار به بیان شویو نکاتو ئې د رڼا اچولو کوشش وکړهٔ یا به ئې هغهٔ سره د اختلاف څهٔ قدرې بونډے کوشش وکړهٔ خو د ناستو خلقو له خوا به په رد عمل پوهه شو نو خبره به ئې تاو راتاو کړه۔

په دې سیمینار کښې د سالار شرکت او وېنا ډېرې ګټې تر لاسه کړې۔ د تقریب د ختمېدو نه پس د سالار نه صحافیان چاپېره شول او رنګ رنګ سوالونه ئې ترې نه کول شروع کړل۔ هغهٔ به هر صحافي ته ډېر په استقامت جواب ورکوهٔ او هغوي به ئې مطمئین کول۔ د ئو صحافي د سوال (تاسو مزید په دې ملك کښې اوسېدل نهٔ غواړئ) په جواب کښې وئیل چې ما چې په سټېج څهٔ وئیل هغه دومره په تفصیل سره وو چې ستا د دې سوال کولو هډو ضروت نهٔ محسوسیږي ، بېرته هم کهٔ دغه وېډیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکتلے شي نو تاسو ته به د ټولو سوالونو جوابونه څرګند شي ځکه چې ما د خپلې نظرئې او سوچ پوره احاطه کوونکي وينا کړې ده .

د ډوډۍ او د مانځۀ د وقفې نه پس چې دوېم نشست شروع شۀ نو د وېنا د پاره اول دعوت ساحل له ورکړے شۀ چې د ګوند سر خېل دے او د انګلېنډ نه خپلې هلې ځلې جاري ساتي . هغۀ چې څنګه خپله وينا د دې شعر نه پېل کړه چې:

زما ځان زما د خپل قام امانت دے

شروع کړے مې له جبره بغاوت دے

نو بعضې بنياد ګر مشران پاڅېدل چې مونږ له د خبرو نمبر نۀ راکولے کيږي او متنازعه خلق به راپاڅولے شي ، دغسې يو بل کس هم را اوچت شۀ او يوه هنګامه ئې جوړه کړه هنګامه چې نعره بازۍ او دست درازۍ ته ورسېده نو سيمينار سبوتاژ شۀ او مجبوراً ئې پريس کانفرنس وکړۀ او هغه ټول حالات ئې په ګُته کړل چې دغه سيمينار کومو خلقو په خپلو ناوړه ارادو وران کړۀ او ګړبړے ئې پکښې پېدا کړۀ . په سبا له اخبارونو دغه پريس کانفرنس په جلي سرخيو کښې چاپ کړۀ چې فائده ټوله دغه ګوند (Moment)ته ورسېده او کومې خبرې چې په په سيمينار کښې محدودو خلقو اورېدې نو هغه ډېرې په نمايان طور هر چا ته اورسېدې چې اخر د افغان اولس د خبرتيا د ګوند په ګټه تمامې شوې او دوي ته د ځوان اولس لا ډېره توجه راوګرځېده .

له بلې خوا رجعت پسندو قوتونو هم د خپلو توپونو خلې د سالار ، ساحل او د دوي د ګوند په لور راوګرځولې او دوي ئې د سوشلشټ قوتونو اهلکار او بېرېخي ګڼل خو دوي ډېر په استقامت د دغه مخالفتونه برداشت کړل او ډېر په تدبر ئې ورته جواب وئيل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نهم ټوک

ساحل چې د خپلو تنظیمي کارونو نه وزګار شۀ نو د مور په اجازت او د سالار په مشوره دوه درې ورځو د پاره د سېل په غرض د ابېټ اباد په لور دواړه وکوچېدل. په لاره ئې شپه په اټك کښې یو ملګري سره وکړه ځوك چې په انګلېنډ کښې دۀ سره یو ځائے پاتې کېدۀ نوم ئې کامل خان وۀ، نسلاً پښتون وۀ خو ډېره موده په اټك کښې د اوسېدو له کبله ئې پښتو ژبه هېره وه. ساحل به په انګلېنډ کښې هغۀ ته خپل تاریخي حېثیت او اهمیت په ګُته کوۀ او دا بۀ ئې ورته وئیل چې اټك او میا والي د پښتونخوا وطن برخې دي نه چې د پنجاب او دغه علاقو ته زمونږ په جُبش کښې قابضه پښتونخوا وئیلې کېږي لکه څنګه چې شمالي پښتونخوا، جنوبي پښتونخوا، مینځنۍ پښتونخوا یا قبائیلي پښتونخوا او قابضه پښتونخوا. ساحل سالار ته د هغه ټولو مجلسونو او بحثونو ذکر وکړۀ چې په دغه لړ کښې به ئې کامل سره ذکر کوۀ. د کامل په رګونو کښې روانه وینه پُښننته وینه وه. هغۀ کله هم د ساحل مخالفت په دې بنیاد نۀ وۀ کړې چې ګني هغه له بدنیتۍ نه دا خبرې کوي بلکې د کله چې هغه په دې حقیقت پوهه شوے وۀ نو په سنجیده انداز کښې ئې دا فکر کوۀ چې دا وطن کوم چې پېرنګي د خپلو ناوړه عزائیمو د پاره په ټوټو وېشلے وۀ، یو ځائے کړي، خپل نوم پرې کېږدي او پښتو ئې د نصاب، عدالت، روزګار او سرکار ژبه وګرځي او د دې وطن په دولتونو د دې ځائے د اولس اختیار راولي او اولس له سیاسي او معاشي ازادي ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل او سالار په لاره لاره ډېر مجلس وکړۀ او د سبل د تلو په وخت هم د خپل کاره نه بې فکره، بې غوره او بې طمعې نۀ وو. ساحل سالار ته وئیل چې تا کوم نظم لیکلے ، ما ته دې ذکر کړے وۀ خو بیا سم نۀ شو نو کۀ درته یاد وي چې راته ئې واوروې. سالار جېب ته لاس کړۀ او خپل لیکلے تازه نظم ئې ساحل ته واوروۀ. سالار چې نظم شروع کړۀ نو ساحل موټر د سړك په غاړه د یوې ګورې ونې د لاندې اودروۀ وئیل ئې ستا د نظم نه خوند اخلم نو بیا به ځو.......

سالار نظم شروع کړۀ :

وطـــن رابانــدې ګــران لکـــه د مـــور لکـــه د پـــلار
زۀ غواړم چې ئې خپل کړمه هم واك او هم اختیار

د غرونـــو د ســـیندونو نـــه ئـــې ســـل ځلـــه شـــم ځـــار
افسوس چې مې اولس نۀ کړۀ تر اوسه چا بېدار

ای خـــاورې پښـــتنې یـــم ملامتـــه بـــه تـــر دې
تـــر څـــو چـــې ازار نـــۀ کـــړم څـــوك چـــې تـــا ســـاتي ازار

پـــه تـــا بانـــدې فـــدا یمـــه پـــه تـــا بانـــدې ژونـــدے
هـــم ســـتا د پـــاره وبـــه کـــړم پـــه ځـــان بانـــدې ناتـــار

زۀ تا سره خوشحال یمه په څنګ کښې په مسکن
بغېر ستا نه هېڅ نۀ یمه کۀ ډېر شمه هوښیار

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــــه میـنــــه کـنبـــــې کــــهٔ ډېــــر شـــمه کـــولے ریاضــــت
هم زهٔ یم ستا د ننګ د لوے لښکر نامتو سالار

ساحل د نظم نه ډېر خوند واخستهٔ او سالار له ئې ډېر داد ورکړهٔ ـ دوي چې اټك ته اورسېدل نو کامل خان ئې انتظار کوهٔ ځکه چې دوي د خپل راتګ نه هغه خبر کړې وهٔ ـ کامل ورته نور مقامي ملګري هم راجمع کړي او دوي ته ئې ډېر د درناوي پروګرام جوړ کړے وهٔ ـ اصل کنبې ساحل او سالار د مسلسل سیاسي کار نه ډېر ستړي شوي وو نو د دمه کېدو د پاره ئې د سېل لاره ونیوله خو دلته هم د خپل وطن مینې دوي په قلاره پرې نهٔ ښودل او په اټك کنبې هم دوي دغه مجلس ته چې د دوي په درناوي کنبې راغونډ شوے وهٔ وینا وکړه او د خپل وطن په تاریخ ، کلتور او مېړني لرغونتوب ئې ورته خبرې وکړې ـ د دغه مجلس اثر دا وشهٔ چې دغه ملګریو دوي ته دلته د بیا راتلو دعوت ورکړهٔ او دوي هم هوډ وکړهٔ چې د خپلو نورو کارونو نه وزګار شي نو دلته به خامخا راځي او تنظیمي کار به هم وکوي ـ
نننے مجلس هم د دوي د ځان او د ملګریو د پاره یوه نادره موقع ئې د ملګریو سوالونو ته جوابونه وئیل ـ

سوال : د اسلامي سلطنت په اړه ستاسو څهٔ فکر دے؟
جواب : ملګرو! د اسلامي ریاست بنیادي تصور په اسلام کنبې نشته لکه چې د نبی اخرزمان نه پس دغه تصور د قران یا حدیث نه نهٔ دے ثابت، د اسلام ابتدایي وخت ته مونږ اسلامي ریاستي نظام وئیلې شو ځکه چې هغه وخت به ټولې فیصلې د وحي په صورت کنبې کېدې خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نبي علیه السلام د وفات نه پس چې د وحي سلسله ختمه شوه نو دغه تصور هم ورسره ختم شۀ. د ریاستي امورو د پاره د ادارو او د ادارو د سرمشر د انتخاب طریقه کار، ریاستي امور چلول او د رعایه په مینځ کښې مضبوط تعلق براقرار ساتل، حرب، قضا او بیت المال یا خزانه په هر دور کښې جدید سیاسي عمل دے چې په یو ځائے ودرېدل ئې تاوان ګڼلے شي. د علم حصول، جدت ته اپروچ لرل د ملکونو ترمینځه تجارتي، سیاسي ، علمي او ادبي روابط قائمول ، خپل اولسي معیار جګول ، پسماندګي له مینځه وړل او ګاونډي هېوادونو سره ښۀ ګاونډېتوب جوړول د هر هېواد د خپل ضرورت مطابق سنجولے ، جوړولے او وده ورکولے شي چې په یو نظام کۀ هغۀ اسلامي وي ، کۀ سېکولر یا بل یو نظام وي په یو وخت په ټوله دنیا منل د عقل نه ماورا خبره ده ځکه چې د دنیا قامونه ورځ تر ورځه نوې نوې تجربې کوي په دې کښې کۀ څۀ خلق کښېنې او په زړه شوخند وهي نو انجام به ئې یقیني طور سره تباهي وي. د دنیا په زړو مذهبونو کښې چې کله پورې ټېکداري سسټم رائج وو نو معاشره په ځائے ولاړه وه خو کله هم چې ریاست د مذهب د غلامۍ نه ځان ازاد کړے دے نو د ژوند په هر مېدان کښې ترقي راغلے ده او دغه سلسله لا ولاړه نۀ ده. په دې کښې چې کومه معاشره یا کوم خاص فکر لرونکې طبقه د دغه زړې دائرې نه نۀ ده راوتې نو اولسونه ئې ذهني بیماران، بنیادګر ، خوار او زار دي. اسلام کله هم د داسې ریاست پېښ بندي نۀ کوي چې پکښې انسانان د انسانانو غلامان وي، عقل او فکر شل وي او معاشره په ځائے ولاړه وي.

سوال: په عالمي او قامي ستونځو کښې د مېډیا څۀ رول پکار دے؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

جواب: انفارمشن مېډیا په اصل کښې د صنعتي دور پېدوار دے چې الیکټرانك او پرنټ مېډیا پکښې دواړه شاملې دي. دوي په ابتدا کښې اولس ته تش خبرونه رسول خو بیا ئې د بحثونه او تجویزونو ورکول شروع کړل او داسې علم او عقیده ئې د یو بل نه جدا جدا دائرو کښې ودرول. د اظهار د پاره یوه ازاده لاره په وجود کښې راغله. په جدیده دنیا کښې د انفارمشن سهولتونو زیاتېدو سره ئې وده هم وکړه خو بعضې رجعتي معاشرو کښې مېډیا کمزورې، ناتوانه او په ځان بدګمانه ده چې اولسونه ئې د خپل معاش په پست ترینه پوړۍ په ځان پورې حېران دریان ولاړ دي او نورې دنیا ته په حسرت حسرت ګوري.

نېمګړے یو حسرت چې د حسرت چا پوره نۀ کړۀ
حسرت د زړۀ حسرت ته په حسرت حسرت کتل

مېډیا د اولسونو په ترقۍ کښې یو مهم رول لوبوي او د هغوي د علمي، اخلاقي، روحاني او معاشي ودې د پاره کار کوي. د بد اخلاقۍ، کرپشن، اقراباپرورۍ مخ نیوے کوي او په هر هاغه چا تنقید کوي څوك چې په ناوړه عملیات کښې ککړ وي. په کومو معاشرو کښې چې مېډیا اختیارمنه او ازاده وي هلته کۀ هر څومره هم طاقتور سړے ولې نۀ وي مېډیا ئې جهان ته مخامخ کوي. په قامي او عالمي ستونځو کښې مېډیا تور ته تور او سپین ته سپین وایي پکار ده چې مونږ هم د نورو ازادو قامي او خودمختاره اولسونو تقلید وکړو او زمونږ ځوانان باید چې په تحریري کارونو کښې یو سترې وکړي او ځان د جهان د متمدنه قامونو په صف کښې اودروي ګني زمونږ قلمونه به همېشه په څو ټکو خرڅیږي او نیلامیږي او په حقیقت کښې هم داسې ده.

مېډیا د یو ملت په سیاسي سېټ اپ کښې هم مثبت کردار ادا کوي، رایې عامه هواروي او جهموري کلچر له وده ورکوي. کوم خلق چې مېډیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انډسټرۍ په توګه د زېږ صحافت په چوکاټ کښې پابنده ساتي دغه خلق خو ذاتي مفاد حاصل کړي ولې معاشره د پسماندګۍ کندې تر پړمخې پرېباسي ، مونږ هم له هغو خلقو نه يو کوم چې د مېډيا د ازادۍ نه محرومه دي او مېډيا د رياستي ادارو په غلامۍ مجبوره ده ـ يوه مخصوصه صحافتي ډله ئې د خود پرستۍ ، انانيت او نرګسيت ښکار ده ـ د دوي دغه کردار د يو بيمار تمدن نشاندهي کوي او د يو نفسياتي بيمار قوم په هم هغه حالت کښې د پاتې کېدو ذمه دار دي ، دا خلق په تاريخ کښې مجرمان دي، په اولس کښې مخ تورن دي او جهان کښې بې وقعته دي۔

مېډيا په عالمي او قامي ستونځو کښې د يو مسيحا کردار ادا کوي خو هر کله چې خپله ذمه داري په احسنه توګه تر سره کړي ځکه چې مېډيا د يو اولس ورك او پټ صلاحيتونه ښکارولے ، روزولے او رښولے شي ـ د فرسوده او ربړېدلي نظام نه انساني سوسائټي سوچه، ساهو ، سپېځلي او ځلنده مقام ته رسولے شي ـ په اولسونو کښې د برداشت ماده پېدا کولې، بحث ته دوام ورکولې او نتيجې اخذ کولې شي ـ دليل او برهان له وده ورکولے شي او د ډز او ټوپك مسلسل غندنه ، د قلم او کتاب حمايت د ښېګړې او ورورولۍ درس عام کولے شي ـ د فرسوده جاګيردارۍ او د هغې نه پېدا شوي قباحتونه له مينځه وړلے شي خو دا کارونه هله ممکن دي چې مېډيا په اصلي معنو کښې خپل مقام ، حېثيت او مرتبه وپېژني نو بيا به د عالمي او قامي ستونځوي په حل کولو کښې مهم کردار ادا کړي۔

سوال : په رياست کښې د عدليې د کردار په حقله تاسو څۀ وائئ، انصاف عام کول او يقيني کول به څنګه اسان او ممکن شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

جواب : په ترقي یافته دنیا کښې انصاف په عملي شکل کښې نافذ دے او د عدلیې حکم په هر چا یو شان لاګو دے ، د انصاف د ادارو د توهین تصور ئې له مینځه وړے دے چې درې بنیادي عوامل ئې دي :

1. د عدالت احترام
2. د منصفانو تقدس او د هغوي کردار
3. د منصف او انصاف غوښتونکي تر مینځه باهمي اعتماد

دا درې واړه توکي د دې خبرې ضمانت ورکوي چې ټول به د انصاف تقاضې پوره کوي ، د ذاتي مفاداتو نه به غوره وي ، د تعصب نه به پاك وي او د ملك ائین به د هر څۀ نه مقدم ګڼي . انساني اخلاقیات د جدید معاشرې په رغاونه کښې د خپلو روایاتو ساتنه ، د معاشرې د هر مکتبه فکر د ماهرانو ترمینځه باهمي روابط، باهمي احترام ، قوت برداشت ، ډائیلاګ او د نتائجو تسلیمول د انصاف بنیادي تقاضې دي . دغه تقاضې په خپل وخت او خپل حالت کښې په سالمه توګه منل ، د ملك هر وګړے د قانون په نظر کښې یو شان تسلیمول د عدل او انصاف د پاره دومره اهم دي لکه چې د بدن د پاره ساه . حکمران او عام وګړے به یو برابر وي ، توهین کۀ د عدالت وي کۀ د فرد یو هومره سزا ئې پکار ده . د جزا او سزا نظام به هم د تعصب نه پاك ، د جانبدارۍ نه ازاد او د جذباتو د اثر نه خالي وي ، هم دا به اصل انصاف وي ګڼې توهین که د عدالت وي ، کۀ د افرادو تاواني لوبه ده .

سوال : مذهبي خلق مدام دا وایي چې د دنیا اکثر ملکونه د اسلام خلاف دي ، تاسو دې باره کښې څۀ وائئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

جواب: ګران ملګريه! زمونږ په دغه طبقه کښې په ډېر اضطراب سره دا غلط فهمي ورځ تر ورځ سېوا کيږي چې مغربي ملکونه زمونږ خلاف دي ، اول خو د مغربي ملکونو دا خبره غلطه ده ځکه چې دا خو د جعرافيې حدونه دي څنګه چې بعضې ملکونه زمونږ په مغرب کښې دي ، داسې زمونږ ملك هم د ډېرو ملکونو د پاره په مغرب کښې دے نو ايا مونږ دغه ملکونو د پاره د دښمن حېثيت لرو . دوېمه خبره دا ده چې کۀ څوك وايي چې دا ټول ملکونه زمونږ بر خلاف دي نو مونږ کښې خو به څۀ مسئله نۀ وي؟ زمونږ ديني طبقې د اولس په ذهنونو کښې دا خبره اچولې ده خو افسوس چې په صحي توګه دوي سره دا دې خبرې ثبوت او دليل نشته. په برطانيه يا د يورپ په نورو ملکونو کښې زمونږ مسلمانانو ته د مذهب او د کلچر ښۀ پوره پوره ازادي او د خپل مذهب د تبلغياتو ورته هم ښه په جار د کولو اجازت دے نو په دې تناظر کښې وګورو نو دا يوه هسې پروپېګنډه ده چې د اصلاح يا د مخ نيوي ضرورت لري او بله خبره دا ده چې دا هم د اسلام د بنيادي تعليماتو خلاف خبره ده چې تر څو يوه خبره تحقيق ته نۀ ده رسېدلې نو منل ئې نۀ دي پکار نو غوره خبره دا ده چې زمونږ ځوان نسل داسې خبرو ته متوجه اوسي او په ناروا پروپېګنډو خپل وخت نۀ خرابوي . دا منل هم يوه ګونه ضروري دي چې ښۀ او خراب خلق په هر معاشره کښې وي ، بايد چې په دغه قسمه ملکونو کښې څوك متعصب مذهبي سړے وي چې په انفرادي توګه د هغۀ خيالات د چا د مذهب باره کښې سم نو وي نو دا خو ځان له خبره ده . دغه قسمه خلق زمونږ تر مينځه هم کېدے شي او په نورو ملکونو کښې هم . بهر حال څوك هم د چا مذهب نۀ شي خرابولے خو بنيادي خبره د برداشت ده ، پکار ده چې هر څوك د بل مذهب ته هم دومره احترام ولري لکه چې خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

مذهب ته ئې لري ، بیا په یقین سره وئیلے کېدے شي چې د تصادم امکان پېدا نۀ شي.

سوال: زمونږ ملګري چې د یو ازاد او خپلواك وطن خبره کوي نو دې د پاره مونږ څه تیارے لرو کنه ؟

جواب: ما دا خبره په نورو ډېرو ځایونو کښې هم کړې ده او زمونږ د جنبش ملګري په دې کښې هېڅ قسمه ابهام نۀ محسوسوي چې د یو قام دپاره د ټولو نه ضروري خبره د هغوي خاوره ده چې د مور حېثیت لري ، او مور خلق په خپل انداز کښې پېټه او مړه ساتي نه چې د بل په طاقت ئې ساتنه او پالنه کوي.

زمونږ تحریك د خپلو ابتدایي ورځو نه تېرېږي ، زمونږ ملګري ډېر په سنجیدګۍ د قامو مسائیلو نه نیولے تر قامي ازادۍ پورې ټولې ستونځې په نظرکښې ساتي ، سائنسي حل ئې لټوي او د دنیا د ټولو دانشورانو ، پوهانو او ازادي خوښوو اولسونو سره په تماس کښې دي ، د هغوي د تجربو نه استفاده، د هغوي نه د اخلاقي کومك تر لاسه کولو او په وخت د ضرورت د هغوي نه مرسته اخستل ټول هاغه اپشنز دي چې زمونږ ملګري ترې غافله نۀ دي.

ژوندي قامونه د خپلو غلطیو نه زده کړه کوي او خپله لاره ، مزل ، تك او سفر د منزل په لوري ځان ته اسانوي او د خپل ذهني توان او توازن په کچ د خپلو ارمانو د سر ته رسول په لور چټك قدمونه اخلي.

د دې ځاے نه دوي سحر د ابېټ اباد په طرف روان شول .

ساحل ورته وئیل چې ملګریو په خداے یقین وکړئ چې زمونږ دا وطن د برطانیې نه هم ښائسته دے خو کاش چې هاغه شان قیادت ئې ونۀ موندۀ چې خپل وطن ازاد او اباد کړي. سالار ورته وئیل چې دا ظلم خو مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره برطانيې کړے دے چې دلته راغلي او مونږ ئي سياسي طور تس نس او تالا ترغه کړي يو ۔ ساحل ورته وئيل چې زۀ خو تاسو ته د برطانيې سر نۀ وينځم خو يوه خبره ده چې هغوي دلته کوم نهري نظام، د پوليس نظام، عدالتي نظام، د ريلوې نظام او نور دفتري نظام جوړ کړے هغه يو بهترين نظام دے او مونږ ترې تر اوسه پورې استفاده کوو دا بيله خبره ده چې دغه نظامونه وروستو د چا لاس ته پاتې شول نو هغوي هاغسې ونۀ چلولے شول ۔ ټول سسټم ئې د ګډوډي او ګړبړي سره مخامخ کړۀ ۔ شايد چې دا د دې خلقو د غلامانه ذهنيت اپروچ وۀ چې د دغه نظامونه ئې د ښۀ کېدو په ځاے تاوان سره مخامخ کړل او يو ګنجلك شکل ئې ورله ورکړۀ ځکه خو د خلقو د ژوند معيار د زوال په لور روان دے ۔ کامل د دۀ د خبرو تائيد وکړۀ او زياته ئې کړه چې مونږ هلته د دې ځاے اولس چې هلته د مسافرۍ ورځې تېروي ګورو نو ډېره منډه وهي ، ډېر همت کوي او دغه منډه او همت د برطانيې د ابادۍ په لړ کښې لوے رول لوبوي کۀ د دغه همت او محنت لسمه برخه هم چا دلته په ايماندارۍ کار وکړۀ نو لرې نۀ ده چې دا وطن هم ګل او ګلزار شي ۔ سا لار ورته وئيل چې مونږ عزم کړے دے چې اول به دلته اولس ته سياسي ازادي پېدا کوو او بيا به کۀ خېر وۀ خپل اولس ته د ښۀ ژوند تېرولو هنر هم ورښايو خو کۀ اولس دې کښې زمونږ کومك وکړي ۔ کامل ورته وئيل چې اولس ته چا دغه درس نۀ دے ورکړے ګنې تاسو وکتل چې د اټك غوندې ځاے کښې چې تاسو خلقو ته مجلس وکړۀ هغوي درسره څنګه ومنه؟ او د خوشحالۍ څرګندونه ئې وکړه او تاسو ته ئې بيا د راتلو دعوت هم در کړۀ دا ولې ؟ دا ځکه چې تاسو رښتيا وئيل او رښتيا په زړۀ کښې ځاے نيسي کۀ زړۀ د کاڼي ولې نۀ وي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوي په دې خبرو خبرو کښې ايبټ اباد ته اورسېدل. د ګاډي نه د کوزېدونه نه پس ساحل کېمره راواخسته اول ئې تصويرونه ويستل او بيا د هوټل په طرف روان شول. دوي په ايبټ اباد کښې دوه ورځې تېرې کړې او يوه شپه ئې په نتياګلۍ کښې وکړه. ساحل وئيل چې زړهٔ مې کيږي چې يو څو ورځې نورې هم تېرې کړو خو مونږ ته کار ډېر دے او وخت لږ دے نو دوي د ښهٔ ګرځېدو او سېل کولو نه پس واپس راروان شو.

ساحل يو وار بيا انګلېنډ ته لاړهٔ. هلته خپل کاروباري مصروفياتو سره سره په جهاني کچ د ګوند ملګريو سره اړيکې بيا د سره ونيولې. دا وار د دوي د ګوند ممبر شپ د نور کله نه په څو چنده زيات شهٔ او دوي هم په باقاعده ډول په پښتونخوا او افغانستان کښې به بيلو بيلو ښارونو کښې خپل دفترونه پرانستل او يو ترتيب ئې برابر کړهٔ. له دې علاوه ئې په تعليمي سکيمونو هم کار پېل کړهٔ او د سکالرشپ له لوري ګڼ شمېر ملګري مختلفو ملکونو ته ولېږل چې په نتيجه کښې يو ډېر تعليمي کېډر په وجود کښې راغے چې د دوي د انقلابي او فکر د ودې سبب وګرځېد.

نن په برطانيه کښې ساحل د ګلوبل اسلامك مومنټ ځوانانو ته په سيکولر ازم ليکچر ورکوهٔ. دهٔ وئيل:

"ګرانو ملګرو! زمونږ مذهبي خلقو سېکولرازم د الحاد، کفر او د بې دينۍ په شکل کښې اولس ته وړاندې کړے دے خو دا د جهالت نه ډك کوشش دے. لوے مسلمان مفکر ابن رشد د سېکولرازم مشر ګڼلے شي. دهٔ د ارسطو په فلسفه باندې داسې بحث کړے دے چې رښتياو ته د رسېدو د پاره دوه لارې دي، يو د مذهب لاره او دوېمه د فلسفې لاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا شان ابن رشد په وړومبي ځل په مسلمانه معاشره کښې فلسفه د مذهب نه جدا کړه او سېکولر نظرئې وړاندې کړهٔ.

ملګرو! په جدید دور کښې د دې فکر وړومبے مشر د برطانیې مصنف جارج هولي اوك دے چا چې په 1846ء کښې د عیسایانو د مذهبي خلقو د تسلط او د مداخلت په دور کښې د دنیاوي ستونځو حل په دنیاوي فکر کښې پیش کړهٔ. دهٔ د دې خبرې وضاحت داسې کړے وهٔ چې سېکولر فکر دین د انسان نه لرې کوي نه بلکې د انساني فکر په انساني ژوند کښې ځاے پېدا کوي. جارج هولي اوك وايي چې سېکولرازم دا نهٔ وايي چې په مذهب کښې رڼا او هدایت شته یا نشته.

ملګرو! دا یو غلط فهمي ده چې سېکولر فکر د مذهب مخالفت کوي ، حقیقت دا دې چې سېکولر فکر د عملي ژوند د تجربو نه پېدا کیږي ، د مثال په توګه علم سېکولر دے، هنر ، کائنات او په کائنات کښې روان ټول قدرتي عمل د الله تعالیٰ د پېدا کولو باوجود هم سېکولر دي یعنې دا اصول کوم یو مذهب نه دي پېدا کړي ، د فطرت او د انسان په ژوند کښې داسې ډېر بې شمېره مسائل دي چې د هغې تعلق مذهب سره نشته او نهٔ د مذهب مخالفت کوي لکه د فطرت قانون ، فزکس ، طب ،نباتات، د مادي وسائلو د تنظیم طریقهٔ کار ، د جغرافیې حقائق ، د اولس تر مینځه بنیادي رابطې، د ذهن د کار کولو قانون او د حېواني ژوند قانون ، یعنې هغه ټول حقیقتونه چې دکومو تعلق د انساني مشاهدې او تجربې سره دے ، هر هغه خبرې او څیزونه چې په دین کښې ئې ذکر شوے دے هغه د دیني تعلیماتو لُستو نه پس هم په صحیح توګه په کار نهٔ شي راوستې چې کله هم مونږ کومې انساني معاشرې یا د هغې ستونځې حل کوو نو مونږ د عقل او شعور نه کار اخلو، مثلاً قران کښې راغلي دي چې الله تعالیٰ مزکه او اسمان په شپږو ورځو کښې پېدا کړي دي خو دا خبره منلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره هم فلکیات، طبعیات، کشش ثقل او د کائنات نظریه اضافي یعنې د فطرت د قانون بې شمېره معلومات مونږ د انسان د عملي ژوند د مشاهدې نه تر لاسه کړې دي.

ملګرو! یو بل ځاے کښې الله تعالیٰ وايي چې ما فولاد پېدا کړې دي چې پکښې د انسان د پاره ډېرې ښېګړې دي. د سېکولر فکر عملي اطلاق په دې صورت کښې دا دے چې مونږ په غرونو کښې د فولاد کانې لټوو چې د غر د کنستو علم دے او مونږ د فولادو جوړولو جدید علم او هنر زده کوو چې پکښې مونږ د دهاتونو بنیادي اصول، د عناصرو د جوړښت اصول، د فولادو جوړولو د پاره د حدت قانون معلوم کړے دے ، دې نه علاوه یوه بله عملي شعبه یعنې برقي څیزونه او د هغې د جوړولو علم ، بیا مونږ د فولادو جوړولو علم، د کېمیا علم، د برقي څیزونو د حدت پېدا کولو علم سره سره مونږ هنر هم یو ځاے کړو نو دې نه پس مونږ په کروړونو ټنونه فولاد پېدا کړو ، دې نه پس د فولادو د طاقت د ناپ کولو د پاره د پېمانې جوړولو علم بیا دا فولاد په کورونو، اسلحو او په ډېرو څیزونو کښې په مختلفو شکلونو کښې پکار راولو. دا شان نور هم بلا څیزونه پېدا کوواو ایجاد کوو، د علم او هنر زده کول د کوم مذهب مخالف نهٔ دے. دا خبره یقیني ده چې مونږ داسې ډېر عملي کارونه کوو چې د کوم مذهب په ضد نهٔ دي.

ملګرو! چې کومو سائنسدانانو او انجئیرانو دا علمونه او هنرونه دنیا ته وړاندې کړي دي نو هغوي په دې عمل کښې نهٔ مسلمانان وو، نهٔ عیسایان ، نهٔ هندوان او یهودیان وو . د دوي د ښهٔ ډېر محنت مقصد فولاد جوړول وو ، د مذهب مخالفت یا ملګرتیا نه وه.

یوه ورځ انټرنېټ کښې یو وېب سائټ باندې یو جذباتي مسلمان ځوان د فولادو د ایت ذکر کولو هغه لیکلي وو چې په جدید سائنس کښې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

فولادو جوهري وزن ۵۲ دے او د هاغه اياتونو شمېر هم ۵۲ دے نو د دې مثال په رڼا کښې ثابته شوه چې دا دين رښتونے دے چې د نن نه څوارلس سوه کاله وړاندې دا ايت راغلے وۀ ـ په دې فکر د اعتراض کولو نه مخکښې زۀ يوه بله خبره کول غواړم چې په ايت کښې د فولادو د جوړولو او د پېدا کولو هېڅ ذکر نشته چې په عملي کار او هنر کښې ترې نه مونږ ګټه واخلو ـ دا خبره چې د اياتونو تعداد ۵۲ دے او په جديد سائنس کښې د فولادو جوهري وزن هم ۵۲ دے د فولادو پېدا کولو کښې زمونږ هېڅ مرسته نۀ کوي، دې نه علاوه په دې خبره کښې ابهام ډېر زيات دے چې قران کې سرۀ زر او سپين زر هم ياد شوي دي چې د لفظونو تعداد ئې د جوهري وزن سره هېڅ سمون نۀ خوري ـ مطلب دا چې دا نظر او فکر د جديد سائنس د قاعدې او فارمولې چې په قران کښې ئې ذکر راغلے دے نو دې نه علاوه دا نور هېڅ هم نۀ دي او نۀ څۀ ګټه لري ځکه چې په داسې خبرو مونږ انسان او علم ته هېڅ فائده نۀ شو رسولې خو هسې د وخت تاوان کوو ځکه چې تشو خبرو نه هېڅ نۀ جوړيږي ، عملي کار پکار دے۔ اکثر د يو مذهب خلق د بل مذهب خلقو دپاره مختلف دليلونه ګوري چې خپل مذهب پرې غوره ثابت کړي ، صرف دغه ئې مقصد وي ـ د داسې قسمه اختلاف نه مسئلې جوړيږي ـ داسې قسمه انسانان د تعصب او منافقت نه ډك وي۔

اکثر په ټيلي وژن کښې بعضې خلق د جديد سائنس جديد علمي انکشافات د قران د اياتونو په رڼا کښې وړاندې کوي خو د دوي خيال يا دعوه تر کومه حده پورې سمه ده يا غلطه خو د دې مثالونو نه دا خبره څرګنديږي چې دا خلق په علمي کارنو کښې دلچسپي نۀ لري بلکې دا هر څۀ د خپلې عقيدې د پاره وړاندې کوي چې نورې عقيدې کمزورې ثابتې کړي۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګرو! زمونږ کائنات ځومره لوے او خور وور دے خو تر اوسه پورې په زرګونو کالو کې د مذهب ټېکدارانو یو ورکوټے شان څیز هم ایجاد نهٔ کړهٔ خو هر وخت دا خبره خامخا کوي چې څهٔ دي نو په مذهب کښې دي ـ تر اوسه پورې چې ځومره ایجادونه شوي دي او د انسان د خېر ښېګړې ، خوشحالۍ او سوکالۍ د پاره په کار راوستلے شوي دي دا ټول د سېکولر خلقو د محنت نتیجه ده او د مذهبي خلقو پکښې هېڅ قسمه برخه نشته ـ په دغه خلقو یو بل اعتراض هم کیږي چې په سېکولر حکومت کښې د مذهب بنیاد ختمیږي چې په کومو ملکونو کښې سېکولر نظام دے هلته په مذهب هېڅ قسمه پابندي نشته ، هلته څوك د مذهبي تعلیماتو او تبلیغاتو نه نهٔ منع کوي ـ د دنیا په ډېرو ملکونو کښې اوس هم سېکولر حکومتونه شته چې هلته زیاته ابادي دعیسایانو ده او چې کوم مسلمانان په دغه ملکونو کښې ژوند کوي هغوي باندې هم هېڅ قسمه مذهبي بندېز نشته خو مسلمانان په خپل ملك کښې د اقلیتونو تبلیغات نهٔ مني او کهٔ څوك ئې کوي نو دوي ئې وژني ـ برطانیه ، امریکا، روس، اسټریلیا او داسې نور هم بلها ملکونه دي چې په تبلیغ کولو پکښې هېڅ قسمه پابندي نشته خو د افسوس خبره دا ده چې سعودي عرب ځان ته اسلامي او شرعي ملك وايي مګر هلته په تبلیغ باندې پابندي ده ـ دې نه علاوه د سعودي عرب د بادشاه شکل او صوت غېر شرعي او غېر اسلامي دے ځکه چې په شریعت کښې د رېبرې دا انداز بیخي نشته ـ په اسلام کښې شهنشائیت نشته او په سعودي عرب کښې شهنشائیت دے.

دوستانو! په زوره مذهب نافذ کولو باندې دوي دا دلیل ورکوي چې دا د الله تعالیٰ له خوا ورکړے شوے نظام دے او د دې په راوستلو کښې د انسان د مشورې ضرورت نشته ، په دې حواله ډېرو ملیانو لیکل هم کړي دي چې د اسلامي نظام نه بغېر د دنیا ټول نظامونه غلط دي او دا به په

(c) ketabton.com: The Digital Library

زور ختمولے شي چې کله په زور او په قوت ټوله دنیا کښې اسلام راشي نو بیا به دا اصول خپل کړے شي چې "لا اکراه فی الدین" یعنې اول به په زور اسلامي نظام نافذ کړے شي او بیا به دا اصول خپل کړے شي چې په دین کښې جبر او زور نشته ـ داسې قسمه سوچ په عملي توګه ډېر کمزورے ، ناقص او تباه کونکے دے ـ په خپله د انبیاء مثال د دې خبرې تردید کوي کوم چې یو پېغمبر هم داسې نۀ دے راغلے چې د هغۀ دین د طاقت په ذریعه نافذ شوے وي ، هر رسول او پېغمبر به د تبلیغ او ترغیب په ذریعه خلق خپل دین ته راوستل خو دا اختیار به د انسان وۀ چې د نبی دعوت قبولوي او کنه ـ د حضرت یونس (ع) مثال په دغه سلسله کښې د اهمیت وړ دے ، د قران مطابق یونس (ع) د الله تعالیٰ نه دعا وکړه چې د دۀ قوم له دې سزا ورکړے شي یعنې الله تعالیٰ ئې په خپل قدرت تباه کړي ، او الله تعالیٰ ورسره دا دې خبرې وعده هم کړې وه چې د کومې سزا غوښتنه حضرت یونس(ع) د الله تعالیٰ نه کړې وۀ خو د هغه وخت خلقو توبه وېسته او الله تعالیٰ معاف کړل او سزا ئې ورله منسوخ کړه خو د دې باوجود یونس(ع) احتجاج وکړۀ او دغه احتجاج د دۀ دپاره د ازمېښت سبب وګرځېده او د الله تعالیٰ د سزا ښکار شۀ ځکه چې د الله تعالیٰ د حق دین د دعوت ورکونکي د پاره د صبر نه د کار اخستو حکم شوے دے ـ

په خپله حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د نبوت او د دعوت په وخت کښې د الله نه د طاقت مطالبه نۀ ده کړې او نۀ ئې خلق د حکمران په حېثیت دین ته رابلل چې کومو خلقو سره ئې جنګونه شوي دي هغه د دنیاوي معاملاتو په معاهدو او د وعدو د خلاف ورزۍ په وجه شوي دي ـ دا شان عیسیٰ (ع) ته هم ډېرې پرېشانۍ وې او د ډېرو تکلیفونو نه تېر شوے وۀ ـ رسول الله (ص) هم د ډېرو تکلیفونو سره مخ شوے وۀ خو دواړو د صبر نه کار اخستے وۀ ـ د نبی حکومت په هغه طریقه راتلے شۀ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلقو به ورسره اسلام ومنلو تر څو چې به خلقو اسلام نه منلو نو په دغه حالاتو کښې به د نبی د حکمران کېدو هیڅ شان نهٔ وهٔ. د مدینې خلقو رسول الله (ص) خپل بادشاه وګڼلو خو عیسیٰ (ع) دا حمایت تر لاسه نهٔ کړهٔ نو حکمران نهٔ شهٔ هغه بیله خبره ده چې کله یو قوم عیسائیت ومنلو نو د عیسایانو حکومتونه جوړ شو.

ملګرو! سېکولر ازم وایي چې مذهب دې روحاني او ذاتي ژوند پورې محدود کړے شي او د دنیاوي کارونو د پاره دې دنیاوي سوچ او عمل پکار راوستلے شي. اکثر ملیان وایي چې اسلام د نورو مذهبونو نه غوره دے ځکه چې اسلام روحاني او دنیاوي معاملاتو کښې خپله برخه لري او دې نه علاوه نور مذهبونه مکمل ضابطه حیات نهٔ لري خو ملګرو! د دې استدلال څهٔ مضبوط بنیاد نشته، په قران کښې راغلي دي چې " لکم دینُ کم ولي دین" یعنې ستاسو د پاره ستا او زما د پاره زما دین،.

ملګریو! په امریکه، روس، فرانس، انګلېنډ، سپېن، اټلي، نیوزي لېنډ، کېنډا او اسټرېلیا کښې عیسایان ډېر دي، داسې هندوستان کښې هندوان ډېر دي، په جاپان کښې بدھ مذهب والا ډېر دي خو په دې ملکونو کښې مذهب د ریاست بنیاد نهٔ دے، هلته یو مذهب په بل مذهب باندې غوره نهٔ دے. هغوي د حکومت ټولې مهمې فېصلې په انساني عقل او شعور باندې حل کوي. په دې ملکونو کښې کله هم مذهب د مملکت بنیاد نهٔ دے ګرځېدلے. په مسلمان ملکونو کښې ترکي، شام، عراق او عرب امارات کښې هم کوم مذهب د ریاست بنیاد نهٔ دے. تر دې چې اسرائیل هم.

په انساني تاریخ کښې د انساني عقل او شعور په ذریعه ډېرې فېصلې شوي دي کله چې عمر(رض) خالد بن ولید د خپلې عهدې نه لرې کړو نو دا څهٔ د قران یا د حدیث خبره نهٔ وه، داسې ډېرې خبرې په قران کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشته لکه چې فوج چرته ولېږلے شي، د فوځ سالار دې څوك وي ، تعداد به ئې څومره وي او د فوځي اهلکارو تنخواه به څومره وي ، د بېت المال نه به وظيفه چا چا له ورکړے کيږي ـ د قاضي د تقرری معياد به څومره وي ـ په خپله د خليفه د وخت معياد به څومره وي ـ د خليفه کېدو طريقه کار ، د اهلکارو اختيارات او د نوي مسلمانانو د اقليتونو د پاره انتظام ، عالمي تعلقات، د عالمي تجارت انتظامات او داسې نور د بنيادي ژوند د سهولتونو ذکر په قران کښې په واضح توګه باندې نشته ـ دې خلقو خو دا دې خبرو د پاره قران نه حوالې هم ورنهٔ کړے شوې ـ دا خبره هم حقيقت ده چې احاديث د خلفائے راشدين د وخت نه پس راغونډ شوي دي د خليفه منتخب کولو د پاره هر ځل د دين په ځائے دنياوي طريقه کار خپل کړے شوے دے ـ د نبی(ع) د وفات نه پس د ابوبکر (رض) خليفه کېدل هم دنياوي طريقه وه ، د ابوبکر نه پس د هغهٔ و وصيت مطابق حضرت عمر(رض) خليفه کېدل ، هغه بيله خبره وه چې دې وصيت سره ډېرو اصحابو اختلاف کړے وهٔ ، د عمر په حق کښې د ابوبکر (رض) وصيت ، عمر (رض) چې شپږ کسان ئې مقرر کړل او ورته ئې ووئيل چې په درې ورځو کښې دننه دننه فېصله وکړئ چې څوك به خليفه وي چې پکښې د حضرت عثمان (رض) نوم تجويز شهٔ ـ د حضرت عمر(رض) د خليفهٔ رسول لقب بدول او د امير المومنين لقب خپلول هم دنياوي طريقه وه ؛ دې نه علاوه د حضرت عمر(رض) په دور کښې ډېرې فېصلې د عقل او شعور په بنياد شوي دي ، په يو کارکښې د حضرت علی (رض) نه د عمر (رض) مشوره اخستل هم د عقل په بنياد وه نهٔ چې د امام په حېثيت ، کهٔ عمر (رض) هغه امام ګڼلو نو بيا خو خلافت د علی (رض) حق وهٔ ـ د حضرت عمر(رض) ځوي (ابو شحامه) به جرم کښې په دوېم ځل په کوړو وهل او د قېد کولو فېصله عقلي وه ، د مغيره بن شعبه باندې د زنا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

الزام په وخت کښې د عمر (رض) د ګواهانو نه تفصیلي پوښتنې هم د عقل په بنیاد وې ، ځکه چې په قران کښې د زنا په باره کښې تشه ګواهي پکار ده ، نه چې تفصیل ـ د حضرت عثمان(رض) په وخت کښې په ډېرو انتظامي فېصلو باندې ډېر بزرګانو او اصحابه کرامو مخالفت کړے وۀ او دا مخالفت ډېر خطرناك حالات ته رسېدلے وۀ خو د امیر په حېثیت حضرت عثمان (رض) خپلې فېصلې عملي کړې، مخالفینو د عثمان (رض) د فېصلو د پاره د بنی(ص) فېصلې په دلیل کښې وړاندې کړې لکه د مروان په حواله ، او د اسلامي ریاست ته د نقصان رسېدو دلیل ئې هم وړاندې کړۀ خو حضرت عثمان(رض) دغه تحریك ته فتنه ووئیله او هېڅ قسمه زور ئې قبول نۀ کړۀ ـ حضرت عثمان (رض) د خلیفه عهده پرېښودو مطالبه هم قبوله نۀ کړه او شهادت ته ئې ملا وتړله خو دا ټولې فېصلې دیني نه بلکې د عقل فېصلې وې ـ داسې قسمه صورت حال بل کوم خلیفه ته نۀ وۀ پېښ شوے ـ

د حضرت عثمان (رض) د قاتلانو د ګرفتارۍ او د حواله کولو کومه غوښتنه چې معاویه (رض) د حضرت علی (رض) نه کړې وه او د اختلاف په صورت کښې ئې لس زره اصحابان شهیدان شوي وو، دغه کار نۀ مذهبي وو او دیني ـ په دې حقله زمونږ ملایانو کله هم په ممبر واضحه خبره نۀ ده کړې ځکه چې دا دنیاوي معاملات وو او فېصلې ئې هم دنیاوي وې ـ مونږ دغه فېصلو ته اجتهاد هم نۀ شو وئیلے ځکه چې د هر چا خپل خپل موقف وۀ ـ دې نه علاوه د علی (رض) او حضرت عائشه (رض) تر مینځه جنګ هم مذهبي او دیني جنګ نۀ وۀ ـ مونږ په دې کښې څۀ نۀ وایو خو زمونږ مُلایان وایي چې په دې کښې خبرې کول نۀ دي پکار حالانکې دا داسې قسمه خبرو نه قران څوك نۀ منع کوي ـ د تاریخ مطالعه او په هغې بحث یو سېکولر عمل دے چې مذهب ئې هم مخالفت نۀ کوي ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

امیر معاویه (رض) چې کله خپل ځوی ولی عهد ټاکلو نو په هغه وخت اصحابه کرام او تابعین ژوندي وو، د مخالفت باوجود هم هغهٔ فېصله وکړه چې یوه عقلي او سیاسي فېصله وه.

ملګرو! مونږ د سېکولر ازم په دې بحث کښې ډېرې مهمې نکتې ته ورسېدو. د وحي او نبوت نه جوړه شوې معاشره چې کله د حضرت محمد (ص) د وفات نه پس ختمه شوه نو وروستو ټولې فېصلې چې کومې شوي دي چا پرې بحث ونهٔ کړهٔ لکه چې د اجتهاد مفهوم څهٔ دے، د دې وجه څهٔ ده او د اجتهاد حق چا سره دے، کومو خلقو ته د مشورې اجازت دے؟

د حضرت ابوبکر (رض) حکمراني چې کومو خلقو نهٔ منله د دوي اعتراض په بنیادي توګه هم هغه وهٔ چې د نبی د وفات نه پس د نبوت دروازې بندې شوې دي نو د مرکزي حکومت تصور هم ختم شو. یعنې د نبی (ص) د وفات نه پس چې کوم حکومت جوړ شهٔ، او چا جوړ کړهٔ، د چا ترمینځه فېصله وشوه ځکه چې په قران کښې د نبی د وارث په کوم ځاے کښې ذکر نشته او نهٔ ئې طریقه کار شته. په دغه وخت د دغه اعتراضاتو حېثیت هم دنیاوي وهٔ، نه چې دیني لهذا دا فېصله عقلي وه چې د فېصلې حق چا ته حاصل دے. دا هم علمي خبره وه چې په دې فېصله د عمل کولو طریقه کار هم عقلي وو. د مدینې د خلقو ملګرتیا او د بعضې قبائیلو مخالفت هم په خپل خپل ځاے عقلي وهٔ. دا شان دې عقلي فېصلو ته وروستو مُلایانو د فقه حېثیت ورکړهٔ.

دې نه پس هم په دیني معاملاتو کښې چې کومې فېصلې شوي دي هغه هم د عقل په معیار شوي دي، عموماً په دنیاوي تجربو کښې. د عقل و خرد، خانداني زور او د قبائیلو په حمایت فېصلې شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تاریخ مشرانو د اولنو څلورو واړو خلفاحېثیت په علمي توګه مسلم ګڼلې دے او نورو اصحابه کرامو هم د دې خبرې اعتراف کړے دے خو د خلافت په وخت د علی (رض) مخالفت په دې وجه کېدهٔ چې د دهٔ عمر کم دے یا ئې تجربه نشته خو چې کله د علی (رض) په مقابله کښې خبره راغله نو بیا معاویه (رض) په علم او تجربه کښې د علی (رض) نه ډېر کمزورے وهٔ. یزید بن معاویه هم د امامانو نه په عمر او علم کښې کم وهٔ. د هغه وخت په ټاکلی معیار خو علی (رض) د خلافت نه پاتې شهٔ ولې د یزید په وخت کښې دغه معیار قطعي نظرانداز کړے شهٔ. د اجتهاد دغه تصور چې پکښې د مخصوصې طبقې ملګرتیا شامله وه ، دا فېصلې هېڅ کله هم اسلامي نهٔ وې بلکې سیاسي او دنیاوي وې.

اکثر مُلایان دا خبره کوي چې مونږ د اسلام اصل بنیاد یو او سلام زمونږ په وجه مضبوط دے خو دا خبره د کبر او غرور نه ډکه ده ، اسلام د کوم مُلا محتاجه نهٔ دے. دا سې قسمه خلق چرته نه چرته په کوم ځاے کښې یو ایت یا حدیث کښې د ځان د پاره اشاره یا دلیل پېدا کوي چې ځان له په معاشره کښې ځانګړے مقام پېدا کړي . دا قسمه بنیادګر په نورو مذهبونو کښې هم شته چې د مذهب په نوم دکانداري کوي او د اولس نه په مخلتفو نومونو سرمایه ترلاسه کوي. هم دې خلقو اسلام په څو څو ډلو او فرقو کښې تقسیم کړے دے خو چې کله ئې خپل ذاتي مفاد پېدا شي نو بیا خپل مېنځ کښې ملګریتا کوي.

ملګریو! اسلام د مشورې اجازت هر چا ته ورکړے دے چې پکښې عام اولس هم برخه اخستے شي ځکه چې د خپل قام ،وطن او ملت د پاره هر هغه سړے چې د عقل او شعور خاوند وي ، خپله رائې او تجویز وړاندې کولے شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګرو دا د سېکولر ازم اصول ، مقصد او منشا هم دا ده چې د ژوند په معاملاتو کښې دې هر يو کس د خپل عقل او دانش مطابق تجويز په تحريري يا تقريري توګه شامل کړي ، که رائې عامه ئې په حق وي او که په مخالفت کښې دغه به د تجويز په کمزورۍ يا خوبۍ دلالت کوي نه چې د سېکولر ازم په کمزرۍ يا خوبۍ ، هم په دې وجه به د انسانانو ترمينځه يو تعلق ، ربط ، ذهني هم اهنګي او وروړلي قائمه وه".

ساحل چې انګلېنډ ته د تلو نه وړاندې کوم انسټيټيوټ جوړ کړے وۀ هغه به ئې هم هاغه ملګري سنبالوۀ او دغه ادارې ډېره ترقي وکړه ، يو لوے بلډنګ ئې ورله اخستې وۀ او د ښار په ښو ادارو کښې چې اوس ئې باقاعده د کالج شکل اختيار کړے وۀ - دلته روزلي شوي ځيني قابلان طالبعلمان د ساحل په مرسته ګڼو يورپي ملکونو ته هم تلي وو- د دغه ادارې معاملات او ذمه وارۍ چې زياتې شوې نو ساحل سالار ته وئيل چې هغه دې ملګري سره په کار کښې کومك کوي خو د سالار بې شانه سياسي سرګرميو هغه دې ته جوړ نۀ کړۀ چې په دغه کار کښې دې هغوي سره لاس وکړي او نۀ ساحل واپس د دې د پاره دلته راتلے شۀ نو اداره ئې هغۀ ته وسپارله او خپلې ذمه وارياني ئې ترنه راغونډې کړې-

ساحل چې خپل کاروباري مسائل راغونډ کړل او تنظيم ئې فعال کړۀ او په خپلو پښو ئې ودروۀ نو يو وار بيا واپس راغلو - د راتلو نه مخکښې ئې سالار ته وئيلي وو چې د يو کور اخستو د پاره چرته پراپرټي ډيلر سره خبره وکړي - ساحل چې رارسېدۀ نو سالار د يو ښۀ کور بندوبست کړے وۀ چې د ښار په ماډل ټاون کښې يو ښائسته بنګله وه - د ساحل د رارسېدو په دربمه ورځ ګلالۍ، د ګلالۍ مور او د سالار نيا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي ماډل په يو موټر کمپنۍ د بنګلې مخې ته کوزې شوې . ګلالۍ اول سالار ته او بيا ساحل ته لاندې باندې وکتل بيا ئې د بنګلې په ور نظر واچوهٔ او خپلې پښتنې اوښکې ئې د خپلې لوپټې په پلو وچې کړې . سالار او ساحل ئې دواړه ځان ته رانزدې کړل لکه چې ګل ته ووائي چې ما تا سره کړے لوظ پوره کړهٔ ، وګوره کنه تا ما له يو سالار راکړے وهٔ ما ورسره دوېم هم وپالهٔ . تا ما ته وئيلي وو چې تهٔ پښتنه ئې زما د امانت خيال به ساتې ، هو زهٔ پښتنه يم ما ستا د امانت خيال وساتهٔ . هن کهٔ يقين دې نهٔ راځي نو دا وګوره ..... ... دا سالار او دغه ساحل او په وار وار ئې دواړه ښکل کړهٔ د بنګلې په درشل ئې خپله پښه ورواړوله لکه چې يوې نوې دنيا ته داخله شوې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لسم ټوك

یوه ورځ سالار د کور نه په یو سیاسي پروګرام کښې د ګډون د پاره ووتهٔ چې په لاره کښې ترهه ګرو په ټارګټ کېلنګ کښې سره د دربو ملګریو شهید کړهٔ ځکه چې سالار د څهٔ مودې راهسې د دې خلقو د سترګو ازغے وهٔ ، د تنظیم ملګریو د ساحل په مشرتابهٔ کښې په ټوله پښتونخوا کښې مظاهرې وکړې او په خپلو نعرو کښې به ئې د دې خبرې څرګندونه کوله چې مونږ د مرګ نه نهٔ ویربږو او تر اخره پورې به د خپل وطن د خپلواکۍ د پاره ځان هرې قربانۍ ته چمتو ساتو .
د ساحل د مرګ نه پوره یوه میاشت پس د تنظیم ملګریو د سالار د مرګ د غندنې د پاره یو سیمینار راجوړ کړهٔ چې پکښې د لر او بر پښتونخوا وطن ډېرو مشرانو قام پرستو برخه واخسته . دې نه علاوه په دې غونډه کښې ډاکټرانو، وکیلانو، ادیبانو، بزګرو او طالبعلمانو ګډون وکړهٔ . سیمینار کښې ویناوالو د سالار په سیاسي ، سماجي او ادبي ژوند باندې رڼا واچوله او ټولو په ښهٔ ټکو یاد کړهٔ . د دغه ناروا کار غندنه ئې په صفا ټکو کښې وکړه خو چې کله ساحل د وینا د پاره راوغوښتے شهٔ نو په حال کښې ناستو خلقو په ډېر درناوي هغهٔ ته هرکلے وئیل . هغهٔ د خدائے د لوئې نامې نه د خپلو خبرو اغاز وکړهٔ او وئیل ئې " زما ګرانو ننګیالو پښتنو، خوېندو وروڼو، مشرانو ، همځولو او کشرانو ټول سترې مهٔ شئ . نن ورځ د سالار خان شهید په یاد کښې نمانځلې کیږي خو د سالار خان سره سره زمونږ د ډېرو معلومو او نامعلومو شهیدانو د خپلواکۍ د پاره خپل ځانونه قربان کړل او زمونږ د ټولو هم مرام دے چې د وطن د ښادۍ او ابادۍ د پاره د هیڅ قسمه قربانۍ نه ځان ونهٔ ژغورو ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي نه وړاندي زما پلار ګل خان سره هم دې خلقو ډېر ظلم کړے وۀ ،د هغۀ هلې ځلې او قربانۍ د چا نه پټې نۀ دي، ګرانو ملګريو! د ډېرې مودې راهسې زمونږ په لر او بر وطن کښې چې کوم اور بل دے نو په دې کښې د دنيا يو ملك هم زمونږ د ښېګړې د پاره غږ اوچت نۀ کړۀ او نۀ ئې په اقوام متحده کښې کوم قرارداد وړاندې کړۀ خو کۀ هر څۀ وي خو مونږ به د خپلو معلومو نامعلومو شهيدانو دا قرض خلاصوو. ګرانو ملګريو! نن سبا جديد دور دے او د وخت نوې نوې تقاضې دي . په اوسني وخت کښې خپلواکي د هر انسان حق دے ، ملګريو! مونږ ازاد وطن د خپل غريب اولس د پاره غواړو او دې د پاره ئې نۀ غواړو چې سبا له دې د سرمايه دارو په لاسونو کښې زمونږ د وطن واك او اختيار وي ، معنیٰ دا چې مونږ د يو غلامۍ نه ځان خلاصوو نو هسې نه چې په بله غلامۍ کښې راګېر شو . نن مونږ د غلامانو غلامان يو سبا به زمونږ اولس د خانانو او سرمايه دارو غلام وي . نن سبا چې څوك هم د پښتون سياست چغه وهي نو د دوي ګوندونه هم ميراثي دي چې پلار ئې مړ شي نو زوے به ئې د ګوند مشر شي، په دې وطن کښې زمونږ ژبه ، کلتور، وسائل او تاريخ هم غلام دے او زمونږ د اولس ذهنونه ئې هم غلامان کړي دي چې ډېره خطرناکه خبره ده . د دنيا کوم کتاب کښې راغلي دي چې زمونږ پښتو به د دفتر ، سکول او عدالت ژبه نۀ وي ، مونږ د دنيا د نورو ژبو نه هم انکار نۀ کوو ، پښتانۀ دي د دنيا ټولې ژبې زده کړي خو پښتو به زمونږ د وطن ژبه وي او پښتو يواځې ژبه نه بلکې پښتو ځان له يو قانون هم دے . ملګريو! د ډېر مودې راسې زمونږ جوماتونه، حجرې ، بازارونه، کارخانې، او کورونه په زرګونو تعداد کښې په بمونو والوځولے شول چې پکښې بې شمېره بې ګناه پښتانۀ شهيدان شول ، تر دې چې دښمن زمونږ د مشرانو مقبرې هم په بمونو تباه کړې، اخر مونږ له چا سره دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظلم کړے دے چې دوي ئې مونږ سره کوي په تېرو څلوېښتو کالو کښې داسې ورځ نۀ ده راغلې چې په لر او بر وطن کښې بم چاودنه نۀ ده شوې. هره ورځ زمونږ په وطن کښې ماتم وي. زمونږ خوېندې مېندې، ځوانان او ماشومان محفوظ نۀ دي. زمونږ بنيادي ضرورتونه دلته نۀ پوره کيږي، زمونږ په لکونو افغانان شهيدان شول، بې شمېره معذوره شول، زمونږ خوېندې مېندې کونډې شوې او ماشومان يتيمانان شول او لا بيا هم زمونږ دښمن زمونږ شکل دنيا ته د وهشي او ترهه ګر په شکل کښې وړاندې کوي خو افسوس چې دلته زمونږ په وطن کښې کومه برېنډه لوبه روانه ده نو د اسلام په نوم روانه ده، د پنجاب جوماتونه، سکولونه او بازارونه ټول محفوظ دي، زمونږ په وطن کښې څومره بربادي وشوه خو د پنجاب په هيره منډۍ کښې يوه پټاخه هم ډز نۀ شوه، دا څنګه اسلام دے، ملګريو! زۀ نن ټولو سياسي ګوندونو ته چې پښتانۀ ئې مشران دي دا وايم چې راځئ منافقت به پرېږدو او په قران به قسم وخورو چې حقيقت څۀ دے، د مذهب ټيکداران به په قران لاس ږدي چې زما بجلي، اوبۀ، تېل، ګېس، کوئله او نور وسائل د اسلام په رڼا کښې زمونږ د بچو حق دے کۀ د پنجابي د بچو، زمونږ بچي په ډېرانونو کباړ ټولوي او دوي دې پرې مزې کوي، ملګريو! زمونږ د تنظيم په منشور کښې داسې يوه خبره هم نشته چې د اسلام د اصولو نه خلاف وي. ملګريو! افغانستان هم لکه عرب، ايران، روس، چين، امريکا، هندوستان يا د دنيا نورو ملکونو په شان دا حق لري چې خپل ازاد وطن ئې وي خپل بېرغ ئې وي او خپل قانون ئې وي. دا ټول ملکونه به د افغانستان استقلال ته احترام لري، د افغانستان په چارو کښې به څوک هم ګُتې نۀ وهي. ملګريو! دا کوم ظلم چې مونږ سره روان دے نو په داسې حالاتو کښې به پښتانۀ بغاوت نۀ کوي نو څۀ به کوي. مونږ سره د بغاوت نه بغېر بله لاره نشته، کۀ زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په حق غوښتو کوم ملك ورانېږي نو خدا ے دې وکړي چې سبا سحر وران شي ـ ملګریو! نن وخت د سیالۍ د ے، دلته د هر څهٔ حساب کیږي ، زمونږ چې څومره پښتانهٔ شهیدان شول او کوم معذوره شو او داسې چې څومره جوماتونه ، بازارونه او حجرې تباه کړې شوې، د دې حساب او شمېر معلوم د ے ، وخت به راشي چې مونږ به دښمن سره د افغانانو د وینې د یو یو څاڅکي حساب کوو ـ مونږ هیچا ته خپل بدل نهٔ پرېږدو ـ په اوسني وخت کښې دښمن زمونږ اولس په ډېرو شکلونو کښې تقسیم کړے د ے ، تر څو چې مونږ خپل پښتانهٔ د شعور په لار نهٔ وي پوهه کړي او ټول مو په یو اتفاق نهٔ وي راغونډ کړي نو ډېر ګرانه ده چې مونږ ګټه تر لاسه کړو ـ باید چې سیاسي پارټۍ زمونږ جرنلسټان او ادیبان اولس کښې شعور پیدا کړي او خپل اصل دوست او دښمن ورته په ګُته کړي ـ ملګریو! زمونږ بغاوت د خپلواکۍ سره د روایاتي نېشلزم نه ، روایاتي مذهب نه، روایاتي سیاست او روایاتي ادب هم د ے ، مونږ به د نوي دور نوو تقاضو په بنیاد کار کوو ـ نن سبا د انټرنېټ دور د ے او مونږ له پکار دي چې د ژوند په هر اړخ کار وکړو ـ

ملګریو! زمونږ په بربادۍ کښې د پنجاب سره سره سعودي عرب ، چین ، امریکا او ایران هم سره د نورو ملکونو شامل دي خو وخت به راشي چې د هر ي خبرې تپوس به ترې نه کوو ـ ملګریو ! نن خوشحاله یم چې زمونږ خوېندې هم سړو سره د قام د خدمت او پوهولو د پاره خپلې هلې ځلې کوي ځکه چې ښځو په سیاست او په جنګ کښې ډېر لو ے کردار وي ـ ملګریو! کهٔ د وطن وسائل تر لاسه کړے شي نو زمونږ په وطن کښې غریبي او ناچاري نشته "

ساحل خپله وېنا په دې شعر ختمه کړه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتونستان کۀ مې په وينو ازادېږي

هر يو ډز دې هم زما سينه غلبېل کا

دې نه پس يو ځوان ته دعوت ورکړے شۀ چې خپل نظم ناستو خلقو ته وړاندې کړي۔ځوان د مشرانو په اجازه خپل نظم واوروۀ :

خدايه ډېر کۀ خطاکار يم

ستا د رحم امېدوار يم

چې منونکے د احد يم

او مئين په محمد يم

زۀ کۀ نېك يمه کۀ بد يم

خو قائل د لم يلد يم

هم ازل يم هم ابد يم

د پښتون د مينې حد يم

زۀ د خپل اولس پکار يم

ستا د رحم امېدوار يم

خدايه مل مې د خپل ځان کړه

او مضبوط زما ايمان کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما د مینې لوی اسمان کړه

ما رښتونی نر افغان کړه

زما ټول وطن ودان کړه

ښاد اباد افغانستان کړه

ستا نه کله په انکار یم

ستا د رحم امېدوار یم

ما پښتون ، ما مسلمان کړه

ما د لوی خصلت انسان کړه

زما ټول بچي نران کړه

هر مشکل زما اسان کړه

جوړ زما پښتونستان کړه

او دشمن له مې طوفان کړه

زۀ په طمع د بهار یم

ستا د رحم امېدوار یم

ما د ننګ په لار روان کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مـــا فـــاتح د هـــر مېـــدان کـــړه
مـــا ملګـــرے د انســـان کـــړه
مـــا د خپـــل جانـــان جانـــان کـــړه
مـــا د خپـــل چمـــن باغبـــان کـــړه
ځلنـــده مـــې پـــه جهـــان کـــړه

ارشـــد دې تـــه بـــې قـــرار يـــم
ســـتا د رحـــم امېـــدوار يـــم

***

ښاغلي ارشد خليل پښتو ادب کښې ځان د يو شاعر په حېثيت هغه وخت معارفي کړۀ چې د "اوښکې" په نوم ئې خپله وړومبۍ شعري مجموعه چاپ کړه او اوس دا دے د يو ناول نګار په صورت کښې د خپل "بغاوت" سره د پښتو ژبې په ډاډ پښتون اولس ته مخامخ دے. هغه ځان ته لېونے افغان وايي او دا بغاوت ئې د دغه لېونتوب ائينه ده. دا ائينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځومره صفا ده او ځومره ګرد الوده ده، دا پته د دې کتاب د لوستو نه پس په اسانه لګېدے شي خو تر کومه چې په ادب کښې د سنجيدګۍ تعلق دے نو د ښاغلي ارشد خليل همځولي ليکوال لا د خپلو قلبي وارداتو د حصار نه نهٔ دي راوتي او دے د ځوانۍ په دې ډګر هم د خپل قام غم خوري ـ اوس د قام خوښه ده چې د دهٔ دې زيار ته په کوم نظر ګوري ـ بغاوت د ښاغلي ارشد خليل وړومبے ناول دے ، د تجربې ، مطالعې او مشاهدې حسي اداراك او صلاحيت ئې لا زياتې ودې ته چمتو ښکاري چې په راتلونکي وخت کښې د يو ښهٔ اديب په توګه د پښتو ادب په اسمان لکه د يو ځلنده ستوري ئې ځل يقيني دے ـ مونږ ورته په طمع يو ـ

سلېمان کامل

مردان

۴م اکتوبر۲۰۱۲ء

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساقلي ارشد خلیل پښتو ادب کښې ځان د يو شاعر په حېثيت هغه وخت معارفي کړ چې د "اوښکې" په نوم ئې خپله ورومبی شعري مجموعه چاپ کړه او اوس دا دے د يو ناول نګار په صورت کښې د خپل "بغاوت" سره د پښتو ژبې په واو پښتون اولس ته مخامخ دے. هغه ځان ته ليونے افغان وائي او دا بغاوت ئې د دغه ليونتوب انسته ده. دا انسته خومره صفا ده او خومره ګرد الوده ده. دا پته د دې کتاب د لوستو نه پس په اسانه لګيدے شي خو زه ګومه چې په ادب کښې د سنجيدګۍ تعلق دے نو د ساقلي ارشد خليل همخولي ليکوال لا د خپلو قلبي وارداتو د حصار نه نه دي راوتي او دے د خوانۍ په دې دګر هم د خپل قام غم خوري. اوس د قام خوښه ده چې د دۀ دې ربار ته په کوم نظر ګوري. بغاوت د ساقلي ارشد خليل ورومبے ناول دے. د تجربې، مطالعې او مشاهدې حس ادراک او صلاحيت ئې لا زياتي ودې ته چټر ښکاري چې په راتلونکي وخت کښې د يو ښه اديب په توګه د پښتو ادب په اسمان لکه د يو ځلنده ستوري ئې ځل يقيني دے. موږ ورته په طمع يو.

سليمان اکمال

مردان

۴م اکتوبر ۲۰۱۲ء

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**